# غورځنګونه



Presented By
PUKHTO.NET

اباسین یوسفزے

# چې کتاب زما دے نو اِختیار زما دے

PUKHTO.NET


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | غورځنګونه |
| لیکونکے | اباسین یوسفزے |
| وړومبے چاپ | جنوری 1994ع |
| دویم چاپ | اکتوبر 1995ع |
| دریم چاپ | فروری 2001ع |
| سرپانه | ناصرالدین مهمند |
| کاتب | لطف الله خوشنویس |
| چاپوونکے | ملت ایجوکیشنل پرنټرز لاهور |
| بیه | 50 روپۍ غیر مجلد |
| | 70 روپۍ مجلد |

# ترون

د خپلې درنې او سپېڅلې مور
**پښتو**
په نوم

.....

که د خاورو په کورونو کښې اوسېږو
خو په ښکلوښکلو زړونو کښې اوسېږو
مونږ ترل کوو خبرې سپينې سپينې
که په تورو تورو غرونو کښې اوسېږو

PUKHTO.NET

# ?

پهٔ درې میاشتو کښې دیو کتاب زر کاپۍ ځرڅېدل د ورنا وي خبرهٔ دهٔ - زهٔ به دې ته یقیناً چې خپله خوشبختي او وایم چې زما دې ساده کوشش ته خلقو پهٔ ډېره درنه سترګه وکتل او زما د ذهن نه ئې دا خبره بېخي لرې کړه چې د پښتو کتاب څوک نهٔ اخلي یو هغه وخت وُ چې د دې کتاب قلمي نسخه دوه درې کاله زما سره چاپ ته سترګې پهٔ لار پرته وه څهٔ زما لاس تش دے او څهٔ زما همت ډېر خلاص دے - بهرحال خدائے پاک ډېر فضل وکړو دا دے دویم ایډیشن ستاسو پهٔ لاس کښې دے -

زهٔ پهٔ راتلونکي وخت کښې د ګرانو ښاغلو شاعرانو د غزل د پېڅلو اُستاذانو اکرام الله ګران، خیبر اپریدی او رند بش شمس القمر د کتابونو چاپ کولو ته فکر ور یم - او د الله پاک نه مرسته غواړم -

زهٔ د نایاب بُک ایجنسی پهٔ ادب مئین مالک ښاغلي عبدالذاکر ترین هم مننه کوم چې پهٔ دویم ځل چاپ ئې راته اُسانتیا کړو -

اباسین یوسفزے

۱۷، اکتوبر ۱۹۹۵ء

PUKHTO.NET

# اباسین

## ډاکټر راج ولي شاه خټک

12.02.2001

"غورځنګونه" د ښاغلي اباسین یوسفزي د شعرونو ښکلې مجموعه ده او دا یې درېیم ایډیشن دے ـ د پښتو داسې کتاب چې په نصاب کښې شامل نه وي او نه یې په چا د اخستو څه جبروي. بیا هم په اولسي غوښتنه په درېیم ځل چاپ کېږي که ناشوني نه ده نو عجیبه او حیرانوونکې خبره خو ضرور ده ځکه چې د پښتو د طباعت په تاریخ کښې ډېر کم یو کتاب د یوځل دوه نه زیات چاپ شوے دے. زمونږ په عصر کښې زما د یاد مطابق سیوا د رحمت شاه سائل د یو کتاب نه بل د شعرونو کتاب د اولسي غوښتنې له مخه بیا بیا نه دے شایع شوے

تر اوسه د پښتو په شعري مجموعو کښې تر ټولو زیات ایډیشنونه د امیر حمزه خان شینواري د "غزونې" راوتي دي خو د غزونې د مقبولیت تر ټولو قوي سبب د غزل معیار دے

ولې "غورځنګونه" چې په درېیم ځل چاپ کېږي نو ددې په شاتنکاره دوه عوامل ښکاري یو د ښاغلي اباسین یوسفزي شخصیت او بل د هغه د شعر مقبولیت ـ تر څو چې د اباسین د شخصیت تعلق دے نویو خوش ذوق، خوش پوش او خوش صورت زلمے دے د پښتني ادابو او اخلاقو په ښاغلیو خویونو ښائسته، په شخصي ډول د عصر په زړو خوانانو کښې د خپل دروند خوي په سبب یو شان مقبول دے نه کشر، نه استاد او نه مشرهم دے. د ځوانو جذبو توانا پښتون خلیے د قامي احساس او شعور په رڼا منور ذهن لرونکے د فن په تقاضو پوه اباسین ډېرې نورې شخصي خوبۍ هم لري

بله یې شاعري ده. اباسین د خپل شعر سره ډېره مینه لري د خپل فکر د خراش تراش ماهر هم دے سخن فهم دے، سخندان دے، حساس دے . د هرې ښکلانه تاثراخلي چې په شعوري او لاشعوري توګه پرې اغېزه کوي. دغه ښکلا که مجسمه وي، مادي وي او که د فن وي د ده فنکارانه صلاحیت ترې وده مومي

"غورځنګونه" د دغه تاثراتو عکس دے د خپل عصر د فکري رجحان او شاعرانه مضامینو نه سیوا د اباسین خپل داخلي احساس او دهغې د رنګ د اظهار نمونه دا شعرونه رواني هم لري، بې ساختګي هم او برجسته ښکلے انداز هم. په دې لنډو خبرو کښې د اباسین په شاعري پوره خبره ګرانه ده خو د هغه د شعر یو خاصیت ډېر نمایان دے او هغه د اباسین د مقامیت او پښتونیت شعور دے چې د اباسین د شعر زما تر فهم له ټولو زورآور عنصر همدغه دے ـ هم په حسن هم په مینه هم په مقصد کښې یې دغه مثبتو رویو زور پیداکړے ښکاري او تر څو چې په دغه مضمون کښې زور وي د "غورځنګونه" بیا بیا شایع کېدو تقاضا به پیدا کېږي

PUKHTO.NET

# دا باسین غورځنګ

دیو کتاب دیباچه یا سریزه یو داسې نازک او ربنهمین مزے دے چې په هغې کښې د کتاب مصنف په خپله د خپل بیک په باره کښې د خپلو خیالونو غمې بیلے شي. ولې هرکله چې دغه کار بل ته وسپارلے شي نو ربښتیا خبره داده چې خبره ډېره ګرانه شي، موږ چې دا خبرګ کوؤ نو دا ځکله چې موږ د کتاب مقدمه، دیباچه یا سریزه دیو کتاب یوً داسې پېژندګلو ګڼو چې په هغې کښې د کتاب د مضمون د عزیز او نورېو پولې په ګوته شوې وي اودا چې په دغه کتاب کښې چې څۀ بیلے شوي وي هغه په لنډو ټکو کښې بیان شي، څرګنده خبره ده چې دیو کتاب بنۀ او سمه سریزه د دغه کتاب لیکونکے په خپله لیکلے شي او دغه شان لوستونکو ته د خپل بیک په حقله رومبنۍ او بنیادي اطلاع ورکولے شي.

موږ د دارنګه دیباچو لیکلو څه خاص تجربه نۀ لرو، او بیا په ادبي تله کښې زموږ وزن هم دومره نۀ دے چې د اباسین یوسفزي د شاعرۍ قدر او قیمت به پرې زیات شي، هغه چې په موږ د خپل کتاب سریزه لیکي نو موږ ته لګه چې د خپلې مینې او اخلاص دالـې ورانډې کوي او یا دا چې موږ بورې د ګمرهغې برخې ته رسېدلی

یو چې بس سوېزې په کښې لیکلې شي او د ادبي محفلونو صدارت
او مشرمېلمه توب پکښې کېدے شي، هرچې دې په خپله ادبي لار
مونږ د دې عقیدې او دې نظریې سره سفر کړے دے چې هر څوک
چې مونږ ته په مورنۍ ژبه کښې خپل نظم یا نثر وړاندې کوي
مونږ د اګنهو چې هغه د اسې د خپلې ژبې سره د محبت اعلان کوي
او هرڅوک چې خپله ژبه کښې څهٔ لیکي مونږ یقین کوؤ چې هغه
خپل قام اولس ته یو قسم د خپلې ژبې د ژوندي ساتلو او هغې ته
د ودې ورکولو دپاره د هرقسم قربانۍ ورکولو لوظنامه وړاندې
کوي، زمونږ ژبه چې د هغې په بنیاد زمونږ د قامي وجود، زمونږ د
تهذیب او ثقافت او زمونږ د پښتنې ژوند د ساهو او پېژندګلو قدرونو
لوئے او د ننګ لوړ عمارت ولاړ دے.

اباسین یوسفزے زمونږ یو داسې زلمے شاعر دے چې هغهٔ د
خپلو سیندونو او خوږونو د غورځنګونو نه، د خپلو چینو او چړونو
د شورنه، د خپلو غرونو، ګل درو او ورشوګانو د ګلونو د رنګ نه، د
خپلو سپرلیو د نشه ایزو بادونو نه، د خپل قام اولس د ولولو نه
او د خپلې خاورې د خوږو او خوندورو وږمو نه خپله نغمه شروع کړې
ده او هم د غه نغمه د هغهٔ د ذاتي او اولسي احساس ژبه او د
هغهٔ د ځوانو جذبو اواز دے.

یو خیال، یو احساس او یوه جذبه د قلم په څوکه کاغذ ته
سپارل ادب دے، او بیا د غه خیال، د غه احساس او د غه جذبه
د لوستونکي زړهٔ ته کوزول د ادب مقصد دے. اباسین هم د

خپل یک دمقصد او دیکونکی په حیث دخپلې ذمه وارئ نه بې خبره نهٔ دے په دې لړکښې کهٔ یوخوا هغهٔ پهٔ خپل مضمون او جذبه کښې زور پیدا کړېدے نو بل خوا ئې موږ ته دا احساس راکړېدے چې دشعر دفکر او معنې دښائست دپاره ساده او سوچه ژبه څومره ضروري ده . اباسین یو خو دخپلې ژبې څخه سترګه کوی بل مضمون او ژبه ئله د دوؤ مینو داسې څنګ په څنګ بوځئ چې زړهٔ او نظر دواړو ته دیوې حسرتناکې نندارې خوند ورکوی اندازه ولګوئ چې دده دا مقامی رنګ څومره شوخ دے او بیا د زړهٔ دا سوے چې زموږ د ثقافت او د ژوند د دود دستور ځخښې نښانې ورکیږی . د اباسین د پښتون غورځنګ څومره ژور احساس راکوی . سه

پینو ته لاړې بندې ګودرونه شو ټول شا ړ
تو کیږی تلې پرې دخوړ په ژړه خورې ورې

رښتیا خبره داده چې په دنیا کښې بس هغه قامونو خپل تشخص ساتلے دے چا چې پهٔ هیڅ شان سره دخپل کلتور رنګ زارنهٔ دے پریښے

اباسین کهٔ دځوانو او ژوند و جذبو ، ولولو او ارمانونو وینښ ، بیدار پوهه او حساس شاعردے نو ورسره ورسره دخپلې مورنۍ ژبې عالم هم دے ، پښتو سره څهٔ کیږی او په پښتو څهٔ تیریږی د دې سوالونو د جوابونو نه هغه او د هغهٔ فن غافل نهٔ دے . موږ وینو چې هغهٔ دخپلې مشاهدې ټولې تماشې او دخپل تخیل ټول رنګونه او دخپل بیان واره هنرونه او دخپل فکر کلونه په هر لحاظ سره

په پښتو پېرزو کړي دي هغهٔ د ټکو ،تشبيهاتو او ترکيبونو په نوي انداز کښې دخپل فکر او خيال د ملغلرو پېئلو کوشش کړېدے . ولې د دې خبرې خيال ئې هم ساتلے دے چې نهٔ خو شعر گنجے شي او نه ئې په معنیٰ کښې ابهام پېدا شي . کله کله خو اباسين مونږ ته ورډزورتهٔ را ياد کړي .

" که شعر وئيل غواړې نو لاړ شهٔ د فطرت په سترگو کښې
سترگې واچوئې او هم د هغه ځائے د اولس په ژبه گويا شئے "

محبت د ژوند يو تل ترتله (ابدی) او نور تر نوره (آفاقی) قدر دے او ښې د مينې د سيورې پيتاؤ نه نو د شعر او ادب ژوند گران دے .

راځئ چې وگورو ، د مينې سندره او د فطرت ساز او د اباسين د خيالستان موسم . ے

لکه غوړاسکے ښې د ذرهٔ په تيږه وتو کيږ هٔ
د محبت نه دخلا صونی روگودي نهٔ راځئ

د فطرت غېږ د مينې يوه ساده جذبه څومره تانده ، سمسوره او ژوندۍ کړېده او د شاعر هنر ته ئې څومره توان بخښلے دے . هم د غه شان دا يو بل شعر د فطرت په رنگ کښې څومره ډوب ليکلے شوېدے نمونږ د ژوند او ثقافتي چاپېرچل څومره بربنا ده پکښې او د شاعر مشاهده ، فطرت ، تخيل او شعري کمال يو بل سره څنگه غاړه غړي دي . ے

د غرهٔ لمن کښې په کاړزنه لاړ د خوړ په غاړه
چې زما زړهٔ پرې او بهٔ ځنلې هغه کور نشته

دغه رنګ په دې لاندينو شعرونو کښې څومره په ښکلې ډول اباسين خپل يو قامې قدر او يو نفسياتي حقيقت بيان کړېدے او د اظهار ساده باده انداز کښې ئې توپلې شعرې غوښتنې څومره په استاکارۍ ترسره کړې دی . ـ

ـ کۀ د خاورو په کورونو کښې وسيږو
نو په ښکلو ښکلو زړونو کښې وسيږو

ـ مونږ ه تل کوو خبرې سپينې سپينې
کۀ په تورو تورو غرونو کښې وسيږو

د دې مثالونو نه زمونږ مطلب دا نۀ دے کښې چې د اباسين شعر دغه طوفان نه په امان دے کوم چې د پښتو د ګلستان منجرې رژوی مونږ دلته دغۀ د زړورې مثې او نيار ستائنه کوو د کوم په زريعه چې هغه په دغه طوفان کښې د پښتو ديوه بله وړې .

اباسين هغه توپل مضامين د خپل قلم لاندې راوستي دی کوم چې هغۀ ته دغه وخت عصر حالاتو او چاپېريال د لورې پېښ دی اوکوم چې ديو ښۀ شاعر او ژوندى ادب د ابادى خته لوته اوګټه چونه ده، هغۀ د خپلې خاورې دړ مې د خپل فکر په رنګونو کښې انجلې دى او فنى تصويرونه ئې ترې جوړ کړى دى، په شعر کښې ئې د مينې او زلمى زړۀ سان اود اولسى ژوند داحساس د رډېدلے اواز د وارې په خپل خپل ځنے داسې رنګونه دى چې زمونږ ادبى ثقافت په کښې هم خاندى هم ځلېږى او پرقېږى .

اباسين د دين ، پښتو او انسانيت هغه توپلې جذبې په خپل

شعر کښې ځائے کړيدې د کومونه بغير چې د يو پښتون وګړي تصوّر نۀ شي کيدے . دا سې ښکاري چې کۀ د هغۀ د شعر بنائست دے که مقصد هغۀ د خپل فکر او فن د ريچه د هغې يو يې کل دري د پـاره پوري نۀ دۀ ساتلې او مونږ کۀ د اخبره وکړو نو بې ځايه به نۀ دي چې هم د دغه کل درو په رنګونو او ورمو کښې د اباسين د شعر ښائست په خپله خپل مثال دے .

اباسين د شعر کښې اصناف ازمائيلي دي ولې هغه چې څه ويـل غواړي او په کومه جذبه يې غواړي د غزل په ژبه يې بنۀ ويـلے شي، د خپل خيال د اظهار د پاره د نوؤ نوؤ تشبيهاتو، استعارو، کنايو ترکيبونو او علامتونو په تلاش کښې دے ' د ښيو غاښونو' د زلفـو پرېوتي' د شړشمو کړوړ' د غانټول چاچۍ' او داسې کښې شمېر شعري ترکيبونو او تشبيهاتو د اباسين غزل ته ځانګړتيا بخښلې او د اباسين مخصوص سټائل يې جوړ کړيدے خپله اباسين هم "د اباسين" نه د علامت کار اخيستے او رنګارنګ معني يې ترې را ايستي دي' غزل يې د نوي او زوړ رنګ ډېره ښکلې نمونه ده هغه چې څۀ وائي او څنګه يې وائي د دارو کښې هم رنګيني ده هم رنګارنګي د دارو کښې د رمـز اشارې او کنايې هغه چرت او خاصيت دے د کوم نه چې د غــزل د غونه جوړيږي .

"غور زنګونه" په ادبي ميدان کښې د اباسين رومبے قدم

PUKHTO.NET

دے او موږ د صحٔ د قدم دخاپې نه ډېر په اسانه د صحه اراده اندازه لګولے شو په کومه چې صحه د یو تاکلی منزل په لور روان دے. فقط.

اندیشے شمس القمر

او

ډاکټر اسرار

هوتي مردان

۲۶/۲/۹۲

PUKHTO.NET

# اباسين بېلې بېلې

اباسين ، يوسفزے اباسين ، د ادب اباسين چې د غرونو دستئ او ځوانئ غورځنګ دے ، خو چې د مېدانی علاقو نه تېرېږي نو بيا يې دچل شرافت خاموشي او د فکر ژورتيا ملګرې دي او ډېر په قلاره روان دي .

اباسين د ملاکنډ په سيمه کښې د دير د خانپور کلي وسېد ونکے دے . دير چې ډاکټر اسرار يې د کشمير نه هم زيات ښائسته ګڼي ، دير چې د غرونو نغترو ، چينو ، دګلونو ، رنګونو د خوشبويو ، د ساده حُسن دننګ او پت پښتو ، غيرت او د روحانی جذبو مزکه ده چې تر اوسه پورې يې چل ښائست ، تهذيب او ثقافت ژوندے او محفوظ ساتلے دے .

د ملاکنډ په سيمه کښې د رحمت شاه سائل نه پس اباسين يوسفزے هغه راختونکے اواز او ترنګ دے چې د ژوند پېغام دے او د چلې سيمې ټول خصوصيات لري . اباسين د

نوی دور د تقاضو نه بې خبره نهٔ دے . هغهٔ ته د څپل قام ولس او انسانی ژوند ته راپېښې کشالې په نظر دی . هغه د عالمی الغاؤ تلغاؤ ، شور شغرب په څپلو غوږو اوری او د غه خارجی اثرات چې جذب کړی نو په داخلی جذبو کښې ې داسې واغږلے شي چې د جمالیاتو یو نوے رنګ پېدا کړی . د دهٔ ادب د پاره دڅوش دے . سرچینه ې مینه ده . په جانان مینې ، په څپل قام مینې ، په انسان مینې او په ښکلا مینې دے . یوه خبره دا چې هغهٔ د څپل تهذیب او ثقافت له پاره ډېر نازک جذبات لری او په دې یو رنګ او اثر قبـلولو ته تیار نهٔ دے . اباسین ډېر نرم او ډېر کلک دے . هغهٔ ته په مینه کښې سـر ورکول اسان کار ښکاری خو ضمیر مجروح کولو ته او ښنتو ورکولو تـه هرګز تیار نهٔ دے او دا نرم والے او کلک والے د دهٔ په مزاج کښې داسې یو ځائے دے چې یو ښائسته امتزاج پېدا کوی او د دهٔ په شاعری کښې د دې خصلتونو پوره پوره عکاسی شته .

اباسین سامو نظریه لری او د دهٔ د خلوص سره به څوک هم اختلاف ونهٔ لری . دے څپله نظریه په داسې ښکلی انداز کښې وړاندې کوی چې په چا بده نهٔ لګی . بلکې خوږه لګی . د دهٔ د غزل د انفرادیت اندازه د دې نه لګی چې د دهٔ په شعر کښې نوی نوی خیالونه ، تشبیهات، علامتونه او نور فنی نزاکتونه په ډاګه ښکاری . د مثال په توګه څه

ــه

داجهل مې په خته کښې اخکلے دے ملګريو!
دتندې نه که مرم خودباران په لورې نهٔ ځم

ــه

تيتې سترګې ناست وی' اننګې يې زرغنه وی
خوندکوی چې کله درته ښکلے يې وعدې شی

ــه

ګله دېرحسين يې خو رقيب مې په مخو کښې شې
داسې دجانان په اوږو سور په کالی مهٔ راځه

ــه

رغېدل پرېږده' خوترمرګه مې ونهٔ رسوی
دزړهٔ په ګل باندې مې' سيورے دارمان شوے دے

ــه

لکه شمع دې بلېږمه په زړهٔ کښې
په قلاره مړمې نهٔ کړې چې سأ اخلې

ــه

ربه! ستا ددې کرم شکر ګزاريم
زما سوچ له دې افغان رنګونه ورکړهٔ
اوداسې کې شمېر نور شعرونه دی چې داباتين شاعری
له يې دجمال اوجلال رنګونه ورکړی دی.

اکرام الله ګران
۱۲/فروری ۹۲

# زرغونه

اباسین یوسفزے هغه زلمے شاعر دے چې د کلام سره سره ورله خدائ داسې شخصیت ورکړے دے چې په دریمې نظر د سړي زړۀ ته پریوزي. که د اباسین شاعرۍ مونږ یو اړخ ته کړو او د هغۀ په عام ژوند نظر واچوو نو لکه څرنګه چې د اباسین د ناڅي اوربدو سره د سړي په زړۀ کښې یو لطیف احساس راپیدا کیږي هم دغسې اباسین بذاتِ خود د لطافت یوه روغه مجسمه ده. د دے د مینې او خلوص یو هغه بے پایا وه سمندر دے چې حدونه ئې نۀ معلومیږي. اباسین د یو ښۀ شاعر سره سره یو مینه ناک ملګرے یو دُعاګو یه زړۀ او یو مخلص ورورهم دے - د مینې حدونه ئې د ملګرتیا دوروليه او عزیزولیه پورې محدود نۀ دي بلکې د ټولې نړۍ غم او درد ئې په خپل زړۀ پورې نیولے دے څوک غمژن او دردمند نۀ شي لیدے -

حُکله خو واقي . سه

د اوښکې یوه ګله چې د چا په اننګو لاړه شي
لکه تیره توره مې نیغه په زړګي لاړه شي

د چا شخصیت یوازې په ښۀ کړۀ وړۀ ، ناسته ولاړه ، خوش لباسی

او دولتونو نهٔ جوړیږی . بلکې د ښهٔ شخصیت خاوند به د ښهٔ سوچ او فکر خښتن وی . دا بیله خبره ده چې نن زمونږ په چاپېرچل کښې مادی څیزونو ته لوړ مقام ورکړے شوے دے . خو کوم خلق چې بالغ نظر او ژوندے احساس لری ، د رحمٰن ، خوشحال او حمزه غوندې خاکسار طبیعت لری . هغه به چرې هم مادی څیزونو ته په درونه نظر او نهٔ گوری او دغه بخری د اباسین په شخصیت کښې هم په ښهٔ شان سره په نظر راځی . اباسین علم ، اخلاق او کردار لوئے دولت گڼی او دغه اظهار ئې په "دولت لوئے شے دے" نومې نظم کښې ډیر په ښهٔ ډول سره کړے دے .

اباسین خاکساری په تاجداری باندې گڼی . سه

ثبوت :- خاکساری به مې بیا هم پرېښودې نهٔ وه
کهٔ لباس مې سلطانی په سر مې تاج وے

نو دهٔ ته په خاکسارئ او کمترئ کښې ډیر فرق ښکاری - دے د خاکسارانه مزاج سره یو خودداره پښتون هم دے . هغه د چا په وړاندې سر ټیټول کفر گڼی . باید چې هغه په مینه کښې ولې نهٔ وی . لکه چې وائی سه

د ملاکنډ شاهۍ مې سر درته اوچت دے کنه
مینه مې کړې نو والله که مې سجدې کړی دی

هر هغه شاعر ادیب ته مونږ لوئے نهٔ شو ویلے د چا په قول و فعل کښې چې تضاد وی . او د چا د قول و فعل کښې چې یو شان وی نو یوازې لوئے شاعر او ادیب نه بلکې یو لوئے انسان هم دے . او په دغه

PUKHTO.NET

تله که موږ اباسین او تو زما په خیال چې د شرشاهي فرق به هم پکښې ښکاره نهٔ شي . او دا احساس هغه موږ ته په خپله راکوي.

کهٔ زما د شخصیت حدونه ګوري
زما فن زما د فکر ترجمان دے

یوازې زهٔ نه : هر هغه کس چې "غور زنګونه" اولولي او بیا ددې بناغلي شاعر د نزدې نه نندارهٔ وکړي نو یقین لرم چې زما سره به متفق شي . دے که هر څو زلمے دے خو د هغه لوړ فکر خاوند دے کوم چې د قامونو مشران لري . او دا دده د لوړوالي هغه مثال دے چې هیڅ ثاني نهٔ لري . ن دور کښې هر سړے خپل غم ژاړي. ددې مصروف دور انسان د کړو په یو داسې دشت کښې اوسېږي چې د بل چا سیورے لیدل هم نهٔ غواړي . په رګ رګ کښې ئې د نفرتونو، بُغض او کینې ویښې راخوټکېږي . اباسین موږ ته احساس راکوي او وائي . سه

بې له نفرته به بل تېغ په زړهٔ کښې نهٔ ټوکېږي
خدائے زده چې څهٔ چل ددې دور په انسانٔ شو به دے

خو په دې حال کښې هم دے د مینې او محبت د فلسفې قائل دے .
ددهٔ د ژوند مقصد مینه کول دي مینه د فطرت سره ، مینه د مخلوق سره ، مینه د خپلې خاورې سره ، مینه د خدائے سره او مینه د ټول کائنات سره . دے د جهان ابادي مینه ګڼي . د هر درد علاج ورته مینه ښکاري . نه چې وینه بهیول . سه

زۀ محبت د هر انسان د زړۀ دارو ګنړمه
ګني رقيبه ماله چېل د انتقام راځي

په قام مئين دے ، په وطن مئين دے په انسان مئين دے ځکه خو دخپل قام د ژوند او پښتنو دواړو نه ګيله من ښکاري . د هغه پښتنو پښتنو چې د مغربيت په غلبه کښې دی . هغوئ له پېغور ورکوي . ــ

حيا پېغور پرته د جونو د لباس يو جز و
څۀ ناڅۀ شته لا خو که شي چې هغې لاړه شي

او يا دا چې ــ

شا بسي مغرب به موځه يا د سري
په پښتنو پښتنو حيا قتل کړئ

دے مغربي تهذيب وتمدن ، مغربي اخلاقيات ، مغربي ثقافتونه دخپل پښتني قام خلاف يو سازش ګڼي . دخپل اولس دپاره يې زهر قاتل ګڼي . ځکه د مشرقيت د بقا دپاره ژوند ته لار ښوونه کوي . ــ

ژوند را پاڅئ مغربي جاکړته لاړې نيسو
د مشرقي خواني رغندل چې بې نبتې ماتېږي

مودې پېړي شوې خو پښتنو خپل ځان ونۀ پېژندو . ټول عمر له ربل مدچې واڼي . دا باسين حساس طبيعت د پښتنو دا بې لارې تو اونۀ زغملے شي . دے غواړي چې زما قام دې هم دنورو قامونو سره دګه په اوګه خپل عظمتونه څکښي بو ځي . په دېر د پردېدلي انداز

او عاجزي سره او دۀ قام ته د شعور نعره وهي . سه

درب دپاره پښتنو ځا نونه وپېژنئ؟

ستاسو دپاره خو به ځان له پېغمبر نۀ راځي

دے هغه ملک پښتون دے څوک چې دځان په خوله پائي . د محنت او مشقت قائل دے . قام ته هم دسخت محنت او کوشش درس ورکوي . دے په زيار او کوشش منزل ته رسيدۀ غواړي نۀ چې په کټ کښې په دُعاګانو . دلته ئې سرګرداني او ګورئ . سه

پاڅه تيشه واخله دغرونو سره سر او وهه

ديار وصال تش د بروزيه سملاستي نۀ کيږي

د کاميابي مدار ومدار دي په تدبير او محنت

بلا کارونه په تقدير او په تندي نۀ کيږي

ددۀ دشاعري بنه بېلګې او درنه برخه دحسن وجمال او فطرت پسندي عکاسي کوي . او داسې ښکاري چې دے فطرتاً يو حُسن پرست شاعر دے او ولې به نۀ وي . دۀ چې په کومه ورشو کښې سترګې پرانستې دي هغه د فطرتي حُسن يوه بې پايا وه خزانه ده . د ملاکنډ روماني دره چې د ښائست ثاني ئې د حميد بابا په قول نۀ په هند او نۀ په بنګاله کښې مونده شي . ظاهره ده چې دغه رنګونه به دده په ذهن او زړۀ خامخا خواره وي .

سه

يو ځل چې څوک د ملاکنډ دسيني پيږ اوروي

مريض دحُسن شي بيا بې له سواته نۀ جوړيږي

لنډه دا چې اباسين د غزل د دنيا هغه نمر دے چې د ملاکنډ د سودرو نه راخېژي او په ټوله پښتونخوا پلوشې خوروي. خپلې خبرې به د حمزه بابا په دې شعر راټولې کړم.

؎

حمزه د خوږ اشنا به د رته څۀ صفت بيان کړم
چې ګوره څوک د هرې ذرې او ښکلې خوږ ه وي

بخت روان عمرخېل
بټ خېله

د اپرېل د مياشتې ورمبۍ
نېټه سنه ۱۹۹۳ء

# ثناء

د وړې شګې سینه کښې راته ښکارې
د شبنم قطره قطره کښې راته ښکارې

د لاسونو په لکیرو کښې دې وینم
په شلېدلې ګرېوانه کښې راته ښکارې

زه به څرنګ ستا د ذات څخه منکر شم
د خپل ذات هره ذره کښې راته ښکارې

حېرانېږم چې دا زه یم او که ته یې
چې په هره آیینه کښې راته ښکارې

خدایه ذات دې یوه لویه معمه ده
ښکارې نه خو په هر څه کښې راته ښکارې

★

PUKHTO.NET

ستا د شخصیت نعم البدل به پیدا نهٔ شي
څو ارلس صدۍ تېرې شوې نوبل به پیدا نهٔ شي

لکه بې سترګو چې تیاره او رڼا نهٔ پېژني
هغه به ړوند وي پېغمبرهٔ چې تا نهٔ پېژني

PUKHTO.NET

# مور

زما کور په تا جنت دے مادپاره فرښته یې
ژوند له تا نه عبارت دے، ته د ژوند دغره څپه یې

که ته نه وې زه به نه ؤمه — او که ؤمه زه به خفه ؤمه
دا په ما چې څۀ راحت دے — دغه ټول ستا برکت دے
ستا غمونه ما ته یاد دي — ستا فکرونه ما ته یاد دي
ټوله شپه ما ته دُعا کړې — ستا نفلونه ما ته یاد دي
زه چې ګل کرم خان دې خاورې — د سپرلي د باد وږمه یې

زما کور په تا جنت دے مادپاره فرښته یې
ژوند له تا نه عبارت دے، ته د ژوند دغره څپه یې

چې به کله شوم نا جوړه — ستا ژړا ماته یاد پېږي
ما چې دوینې تکلیف کښې — ستا زړګے ټومره خوږېږي
یو یوُ حق دې په ما غوندے — دا به څنګه پوره کېږي

PUKHTO.NET

ته چې نه یې خدائے دې نه کړي زما ژوند به څنګ تېرېږي
خدائے دې داسې نه کړي چرې چې زه یم او ته دې نه یې

زما کور به تا جنت دے ما دپاره فرښته یې
ژوند له تا نه عبارت دے ته د ژوند د غره چینه یې

ما د ژوند سبق زده کړے ستا په ښو کښې په خپارو
ستا په غېږ کښې چې به پروت وم څومره ښکلے وخت وو لاړو
چې ایله به په ژړا شوم نو سم روح به درنه لاړو
په هر درد په هر تکلیف کښې ما له هرڅه هرڅه ته یې

زما کور به تا جنت دے ما دپاره فرښته یې
ژوند له تا نه عبارت دے ته د ژوند د غره چینه یې

ستا په ښخا وُمه تا لوئے کړم په هر ښکلی کار دې پوهے کړم
که ډېر فخر کوم نو کم دے چې زه پاک الله ستا زوئے کړم
تا به چرې خفه نه کړم خپلې وینې به زه تویے کړم
زما ذهن دې روښان کړو ته زما د لار ډیوه یې

زما کور به تا جنت دے ما دپاره فرښته یې
ژوند له تا نه عبارت دے ته د ژوند د غره چینه یې

UKHTO.NET

وایه خان درته لوګی کړم     که جهان درته لوګی کړم
مال و زر درنه قربان کړم     که خپل سر درنه قربان کړم
شاعري مې درنه ځار شه     زندګي مې درنه ځار شه
که سجده درته جائز وے     نو زما خانه کعبه ئې

زما کور په تا جنت دے ما د پاره فرشته ئې
ژوند له تا نه عبارت دے ته د ژوند د غره چینه ئې

که دې حسن ته نظر کړم     ئې د هرچانه حسینه
څومره سختي دې په سر دي     خلق وائي وې نیاز بینه
تا کوره وُچه ما د پاره     د خپل بنګلي وجود وینه
هیڅ کمے په تا کښې نشته     ته په هر صفت پوره ئې

زما کور په تا جنت دے ما د پاره فرشته ئې
په تا هیڅ پکلے نه شم د قدرت یو فلسفه ئې

زه که ټول عمر پېکل کړم     ستا خوبي به ختمې نه شي
یو دموږ مینه خوږه ده     په پلار دا تسله نه شي
زما تل دعا دعا ده     مور دې هر چا ته درنه شي

PUKHTO.NET

خدائیګو تهٔ زما دپاره درب لویه معجزه یې

زماګورپهٔ تا جنت دے ما دپاره فرشته یې
اباسینهٔ درنه قربان شه یو عظیمه فلسفه یې

***

PUKHTO.NET

اغیار کۀ راته جوړکړي په کورونو کښې دېوال
بورا ته څۀ مزل دے پۀ ګلونو کښې دېوال

چې کور درنه خطا نۀ شي زما دلېونے
پناه يې دے دبېړې پۀ ښانونو کښې دېوال

زمونږه غریبانو څو دېوال نشته دکور
دخلقو پۀ ذهنونو او پۀ زړونو کښې دېوال

پۀ تورو تورو زلفو کښې دې نغه سپینه لار
ښکارېږي لکه تورو تورو غرونو کښې دېوال

نفرت پۀ يوُ کالۀ کښې دېوالونه کړي راجوړ
الفت د منځه لرکړي پۀ ملکونو کښې دېوال

وطن د پښتنو دے سترګې کله ټيټوُمُ
پېغور دے د پښتو پۀ ډېوالونو کښې ډېوال

ساده رقيب ته ګوره نيسي لار د اباسينځ
ټينګېږي نه کم عقله پۀ موجونو کښې ډېوال

✭✭✭

ستا په رخسار لمبې سوزم
زلفې راښته وهه لمدې سوزم

لکه د شمعې غونډې ژوند تېرؤم
د ورځې مرمه او د شپې سوزم

هله راپېښ شوې چې ایرې ایرې شوم
ما به په چغو چغو وې سوزم

خزان مې شونډې تراړې کړلې
سپرلیه کله به راځې سوزم

ستا د بنائُست د سرو غرمو مخې ته
زهٔ اباسّینځ چپې چپې سوزم

***

PUKHTO.NET

پهٔ دغه مینه مې د زړهٔ چړې باور نهٔ راځي
هر ځلې کله وعده وکړې خو اکثر نهٔ راځي

راته ئې وویل څهٔ ده پر پهٔ زړغونې اوان
نکریزې مهٔ داوړه دې کلی ته اختر نهٔ راځي

زړگے مې خون دے پهٔ قلارشه سرې مهٔ خونوه
نوی مئین لره واعظه عقل زر نهٔ راځي

لکه غوړاسکے مې د زړهٔ پهٔ تیږه او بتوکېد و
د محبت نه د خلاصونې روُ گودر نهٔ راځي

پخواچې ویشتے ؤم جانان دکتمالو پهٔ غنچه
ولې خوشبو به مې یارانو د پرهر نهٔ راځي ؟

PUKHTO.NET

ټول ارمانونه ترینه د بر پهٔ بې وسۍ تویږي
د زړهٔ کچکول پترې کومه خو مسګر نهٔ راځي

د رب د پاره پښتنو ځانونه اوپېژنئ
ستاسو د پاره خو بهٔ ځانله پیغمبر نهٔ راځي

د ذات جوهر مې منجمد شو پهٔ یو داسې کور کښې
چرته چې ټول عمر له سوړ وي او نمر نهٔ راځي

دا بآسیرضا رته سینه چې د بر پهٔ مینه زغمي
ګنې نوکو مې مرحلې زما پهٔ سر نهٔ راځي

* * *

په ستړغلو کښې مې پاړسوب راشي
نمر چې را او خېژي نو خوب راشي

ستا تصوّر هم غــــزونې وکړي
کله چې شپه په زلميتوب راشي

په ځان کښې دغسې راټول کړ ځمه
لکه په جونو پېغلتوب راشي

چې عقيدت د لېونتوبه ووځي
مينه کښې هله سرېتوب راشي

غربت مې داسې ارمانونــــه وژني
لکه په کلو چې وچوب راشي

چې پسرلے په ملاکنډ راواوړي
په اباسينځ کښې لېونتوب راشي

***

PUKHTO.NET

هسې د ځان غوندې مظلومه بل څوک نهٔ شولېٔ
خبر کهٔ پخپله مبتلا یوُ هیڅ پروا نهٔ لرو

دومره سینګار مونږه نانځارو ته حاجت نهٔ لری
جانانه قتل ته رضایوُ هیڅ پروا نهٔ لرو

داسې جنون چې د منصور ورته هم عقل خوزی
اوګوره دار ته پهٔ خندا یوُ هیڅ پروا نهٔ لرو

جانانه ځکه خوبتانو له بشرې ورانوؤ
زړګے مو جمع دے چې ستایوُ هیڅ پروا نهٔ لرو

دکائنا تو پهٔ تسخیر کښې مو زاره وچاوده
خبر کهٔ د زړونه پناه یوُ هیڅ پروا نهٔ لرو

هر ذرهٔ چاودون ته غاړه ږدي خو مرام ته رسو
دسوربهار پهٔ تمنّا یوُ هیڅ پروا نهٔ لرو

PUKHTO.NET

ځوکۀ د شمعې غوندې توۓ شوځان له تویٔ نۀ وایو
د وخت په سترګو کښې دنیا یو هیڅ پروا نۀ لرو

ته د دراوی غوندې بـــــلا کثافتونه لرې
موږ اباسین غوندې صفا یو هیڅ پروا نۀ لرو

PUKHTO.NET

***

# معجزه

سترګو ته دې ویلې شوم اوښو ته دې توۓ شومه
ځومره په ترخه د محبت په خوږو پوۓ شومه
یو خوا ته غربت زما او بل خوا ته الفت دې تا
لویه معجزه ده داورونو منځ کښې لوۓ شومه

چاوې چې مئين شومه نو ښاد شومه
زهٔ خو ستا پهٔ مينه کښې برباد شومه

وګوره زهٔ څومره خوش نصيبه يم
ستا پهٔ نامه ټول وطن کښې ياد شومه

ماه پرې تودې سرې ليدلې دي
زهٔ پهٔ ټينډ کونو کښې استاد شومه

اوس پرې د بنګلا ماڼې ابادې کړه
ستا د شخصيت چې زهٔ بنياد شومه

وايه کنه څنګ دې لار غلطه کړه
شکر دے چې زهٔ درته درياد شومه

ډنګو ډنګو غرونو سره سرو هم
زهٔ خو اباسين نهٔ شوم فرهاد شومه

***

PUKHTO.NET

# اختر

نرګسي سترګې دې چکونه وهي ستګوي ډېر
دا شرابي څواني دې وينمه دحورو په خېر
په اننګو کښې دې رنګونه د رنګونو برسېر
د اضطراب د اسېلابونه دې په شونډو کښې تېر
چې چاپېرچل ته مې د زړهٔ په سترګو وکورم زېر
تا هېروومه نو دا درد به رانه څنګه شي هېر
پهٔ دې حالاتو کښې به څوک د مينې نوم واخلي
اختر چې تېر شي نو نکريزې پهٔ دېوال اوتپه

چې چم ګاونډ مې د غاصب د سترګو سرو خوراک شي
بنائسته ګلان مې د بمونو اوګولو خوراک شي
څوانې جذبې مې شي بې وسه دوېنو خوراک شي
زلمي ځوانان مې د ظالم د کارخانو خوراک شي
زما د نوي ژوند امېد د مزدورو خوراک شي
دانقلاب علمبردار مې د کرُسو خوراک شي
پهٔ دې حالاتو کښې بهٔ څوک د مينې نوم واخلي
اختر چې تېر شي نو نکريزې پهٔ دېوال اوتپه

PUKHTO.NET

د فلسطین په اننګو کښې غرېو پرلت وهلے
ایران عراق راله مالیانو په خپل لاس لوټلے
دافغان غم راله رسا د زړګی سر چولے
راباندې ګور کړو دکشمیر غمونو کوراو کلے
یاران مې چوی دخوشحالئ نه چې اختر راغلے
ما لعلا مغسې ضمیر د وخت روژې نیولے
په دې حالاتو کښې زړګیه مینه کله کېږی
اختر چې تېر شی نو نکریزې په لاسو ال او تېږه

# ګرېز

چې درقیب نه یار په سترګو کښې سلام اخلی
کوره په کوم انداز زما نه انتقام اخلی
واعظ دژوند دفلسفو عظیم کتاب ذوتوی
د محبت دعالمګیر توری نه کام اخلی
مې مو ژوندون دے که هرڅو څو اوس ئې څله او څکو
چې دساقی دلاس بوسه هرخاص وعام اخلی

څوک به مانه د نظر غېږه راتاؤ کړي
تود به نهٔ شمه کهٔ نمر غېږه راتاؤ کړي

ستا یادونه مې په زړهٔ داسې خوارهٔ دي
لکه وني نه چې کوړ[1] غېږه راتاو کړي

ماته د ګورې په کړس کړس په خندا شي
د ګلونو نه به زر غېږه راتاؤ کړي

د ځوانۍ په وخت کښې ګل اسمان ته ګوري
چې شي مړاوے لهٔ ډنډر غېږه راتاؤ کړي

زمانه چې مې په چوّلي[2] دامان پرېږدي
وسوسې رانه اکثر غېږه راتاؤ کړي

---

[1] د انګور زېلے   [2] خوشې بېديا

PUKHTO.NET

زۀ به خندګه د خپل کور نه بهر وځم
چې ستا یاد رانه په ور غېږه راتاوکړي

اباسین ورته چپې چپې چپې شي
چې منګی نه په ګودر غېږه راتاوکړي

## داډګبرنه

ته ګل یې، ته خوشبو یې، ته بنائست یې، ته رنا یې
احساس په پېتو سترګو راته اووې چې زما یې
راځه چې دا ګربوان درله په غېږ کښې راټول کړم
ترخو پورې به دا دېې وسې رسندرې ور یې

PUKHTO.NET

اوس چې کوم طرفته ځې زړه به دې لوېږي
زما یاد به درته لاړو کښې پتو کېږي

هر یو سیوری راته ستا په شانې ښکاري
د سپوږمۍ رڼا هم په سترګو کښې تېرېږي

زه ګل چین نه یم یارانو خوشحال دې
چې سپرلې راشي نو ګوتې مې تخنېږي

ځانته هر وخت آئینه کښې ولې ګوري
زما جانانه زړه په عمر نه زړېږي

بې لتانه په وطن کښې زما څوک دي
بوړې ته راځې چې سترګه مې رپېږي

PUKHTO.NET

څه چې پاس د ملاکنډ په سر دې وا ړوم
په رنګونو به دې سترګې نه مړېږي

ژوند مې ټول دا زغلې په شانې تېرځ دے
بې لټا مې په چا سترګې نه خوږېږي

ما وې زه د عشق له رنځه صحت یاب شوم
اوس مې هم زړګے نړے نړے خوږېږي

چې دې کله د ځوانۍ تنده راواخلي
اباسینه به درته هله دریابېږي

***

PUKHTO.NET

○

ښونے شومه د بُت نه مینه غواړم
چې تصویر ته دې په چغوچغو ژاړم

د دیدن په وخت کښې ځکه غلے ناست یُم
ستا د سترګو کلامونه ذړهٔ ته ښاړم

د ذړهٔ خوښ مې ځکه نهٔ ښکورؤمه
تصوّر دې په کلونو کښې رانغاړم

زما مینه ترې هم چرې کمه نهٔ ده
لهٔ عمرونو ستا په حُسن باندې وياړم

تولې لوړې به ژورې ته راکاږم
رباشیرضٖ یمه په غرونو پسې لاړم

***

PUKHTO.NET

شونډې دې پیکه منګولې یخې دي
دا دې وفاؤ خلقو نخښې دي
لاس دې په نکریزو بانډې سره نه دي
دا زما د زړه د شونډو غوښې دي
دود له رقیبان به ورته اوسوزي
سترګې د ټول کلي په مونږ ښخې دي
زه هم په داغونو زړه رنګین لرم
ستا په اننګو که سرې زخې دي
خپله مې تراخه د ژوند خوړلې دي
تاله مې خوږې ورځې سپرښې دي
دا د کائنات د زړه راګونه دي
ځکه خو مې ستا خبرې خوښې دي

اوس وایه چې زور د اباسین ځمنې
دا دي غورځنګونه ستا د مخې دي

دخپل ژور نړګۍ په تل کښې راته تل ښکاري
ځان ډېر پردے ګڼي خو ماته خپل ښکاري

زۀ دخپل سر د تماتلانو سره مينه کوم
زما انداز د نورو خلقو نه بدل ښکاري

دخپل منزل د رهبرانو په غږ نۀ راپاڅي
دا پښتانۀ راته کاڼۀ ښکاري يا شل ښکاري

په ليونتوب کښې څۀ رنګين رنګين خوبونه وينم
ځان راته هره شپه اودۀ ستا په څنګل ښکاري

چې هر يو کس لکه زمرے په خپل غرور کښې ګرځي
دا پښتونخوا راته بېديا ښکاري ځنګل ښکاري

PUKHTO.NET

کوټي دې خوزې تذکرې د دولتونو کوې
ستا په اوبو دې اوبه دو تسپو کښې راته چل ښکارې

نه زر منم ، نه زور منم ، نه عقل و فهم منم
يو محبت راته دهرې پښې حل ښکارې

په ما مئين دے په خپل قام او فطرت مئين دے
دا خو زما د اباسين لالې غزل ښکارې

PUKHTO.NET

# شيرين

هسې په پلونو لاړې مه توکه
ترخ هم دومره نه يم که شيرين نه يم
زه چې پښتنو ته فيض ونه رسوم
نوم راله بدل کړه اباسين نه يم

*

درد مې خوري درمانه تاته څۀ پته
وه ساده جانانه تاته څۀ پته

څنګه مې د عمر دښتې کې کړمه
نۀ شم بې لتانه تاته څۀ پته

دې ازغو ته کومې پښې د تهینګې دی
اے د ګلو خانه تاته څۀ پته

هره ائینه کښې ستا عکسونه وو
ورک شومه د ځانه تاته څۀ پته

مونږه زړۀ چاودون ته زندګی وایو
وپوښته د چا نه تاته څۀ پته

ډوب شو اباسینه د مینې ډوب کړلو
وه یاره نادانه تاته څۀ پته

★★★

هغه پورې غرۀ کښې ښکاري ګوشونتي[۱] په مابنامي کښې
لکه څوک د چا په قبر څه بلئ[۲] په مابنامي کښې

هغه ګورې ګورې زلفې مخملینه توده غېږه
دېخښي نه اوشوشکېږم د ګرمي په مابنامي کښې

په آغاز د محبت کښې ببرسرې تاته یاد دي
چې راتلې به کله کله په بلئ په مابنامي کښې

د ښېو په غابښو رڼې ټټول خوبونه رانه ټول کړه
خدایه بیا مڅې له راغله لیونۍ په مابنامي کښې

سرې ښکته کړو مسکۍ شوه د راتلو وعده ئې اوکړه
ناڅاپي ګټه په خندا شوه ویل ئې وي به مابنامي کښې

---

۱ لیتئ
۲ بندی

عقل و فهم بنديوان کړی د زندان تورو تمبو کښې
د زړګی پۀ تخت مې کښېنئ يوۀ رانۍ پۀ مابنا مې کښې

د ژوندون ستړی سفر ته زما د راسې کېفيت دے
لکه شل سرې چې خېژی پۀ يوۀ ژۍ پۀ مابنا مې کښې

اوس دې وخت د شابه لوټ کړه سکلا[1] کاڼی وړې کۀ مينه
بيا بۀ ورکړې راکړه نۀ وی د ځوانۍ پۀ مابنا مې کښې

اے د مينې زړۀ چاودونه اے د خلقو ناکرديو
اباسين ته بۀ ورد انګم چې څوک نۀ يُ[2] پۀ مابنا مې کښې

---

[1] د غرۀ غاړه ژۍ، وړوکے غر.

[2] نۀ وی.

چې دې حُسن له خزان رنګونه ورکړهٔ
ستا تصویر لهٔ مې دځان رنګونه ورکړهٔ

دَ ژوندون خوارهٔ مې ټول پهٔ تا پېرزو کړهٔ
ما غزل ته دارمان رنګونه ورکړهٔ

ربّه ستا د دې کرم شکر ګزار یُم
زما سوچ له دې افغان رنګونه ورکړهٔ

هسې هم لکه قېدي پکښې وُسېږم
ما خپل کور له دزندان رنګونه ورکړه

ستا دشونډو تصوّر مې سترګې سرې کړې
تا مې خُبزمو ته دبرګران رنګونه ورکړهٔ

ټول سوالګري د وطن ورته حېران دی
اباسیند له چې اسمان رنګونه ورکړهٔ

PUKHTO.NET

# شوخي

لېونی ذړهٔ چې بې چلونه يو په سل زيات کړهٔ
سيانړه لالی بې ورته ټلونه داوربل زيات کړهٔ
دائې زما د ذړهٔ قطرې په لاس کښې کيږي نيولې
کهٔ ئې ګلونه د نګريزو په منګل زيات کړهٔ

# پيرزوينه

واعظه تهٔ يرې په دلو دلو عذاب راکړه
ساقي خواب شومه يو دوه ګوټه شراب راکړه
دکلی خلق راته ټول په تماشه ولاړ دي
سور لازمی نهٔ دے خو ياڅه يو ګلاب راکړه

# آرزو

چې د زړونو نه راټول بُغض وعناد کړې
چې دشمن د اتفاق په بناخې باد کړې
نو هله به ستا دلاس بنګړې په لاس کړم
چې دګل غونډې وطن راله ازاد کړې

* * *

PUKHTO.NET

ګرد دے کهٔ غبار دے خو بس خوښ مې دے
داچې ستا دلار دے خو بس خوښ مې دے

ستا د مینې غم ته ولې تېښت وړمه
هر څو کهٔ دروند بار دے خو بس خوښ مې دے

يه زاهده! څهٔ پوښتې چې څهٔ رنګه
ستا پکښې څهٔ کار دے خو بس خوښ مې دے

ګورئ سړېوالو دا زما اوس
څومره خوار و زار دے خو بس خوښ مې دے

ژوند ته د کوهکن په سترګه ګورمه
څهٔ! زړهٔ چاؤدے کار دے خو بس خوښ مې دے

PUKHTO.NET

وخت راله د زړهٔ کرشتې غوټې کړې
عمر مې پهٔ دار دے خوبس خوبن مې دے

دابچې سره سر مې چاته تیټ نهٔ شو
عقل نه اوزګار دے خوبس خوبن مې دے

زهٔ پهٔ رقیب خیال د یار لهٔ مخه کړم
مرګ ته مې تیار دے خوبس خوبن مې دے

ستا د کوسو سترګو[2] نه لوګے لوګے
ژوند مې ناقلار دے خوبس خوبن مې دے

مونږ دابآسیرض دغاړو ستړی یُو
څهٔ عجیب ناتار دے خوبس خوبن مې دے

***

[1] زوړ اوبهٔ کېدل.
[2] چلولې سترګې

ګل پسې ړاندۀ شو په نګهت پسې ړاندۀ شو
یه ملګرو مونږ په محبت پسې ړاندۀ شو

اورم چې زلمو د تدبیرونو چارې پرېښوې
دې د بدلون دورکښې قسمت پسې ړاندۀ شو

نۀ ې څکو پیالې راله په شونډو پورې نیسی
مونږ د نرګسی سترګو په ست پسې ړاندۀ شو

تول د تربګنو لومه کښې نښتی دی پرېښږی
لاړۀ پښتانۀ په مصلحت پسې ړاندۀ شو

دې مغربیت مې د تهذیب جرړې ورستې کړې
چم کښې د ړندو په بصیرت پسې ړاندۀ شو

PUKHTO.NET

نور به بې لدې بوټي کړه اونه جوړېږي
يه خلقه بچي په نصيحت پسې ړانده شو

خدائے دې لېونے کړه مونږ دې هسې توبه ګار کړو
چرته دے ملاستا پهٔ جنت پسې ړانده شو

سپي د زردارانو پهٔ بخملو کښې لوغړېږي
خدايه ګو د انسان بچي پهٔ خټ پسې ړانده شو

مونږ د اباسین غونډې ژور فکر ممتاز کړو
بنګليو غونډې نهٔ يو چې شهرت پسې ړانده شو

---

له سپابکه - دوه بناخے - اړم

PUKHTO.NET

ستا د خوشبویو خمار کښې کرشمه
سم لکه د عطرو بنار کښې کرشمه

زۀ د خپل فطرت نه باغي شوے یم
څو پورې به دې مدار کښې کرشمه

تۀ مې تورتمونو ته بیتکے شولې
ما وې د تیرو پۀ غار کښې کرشمه

ستا د حُسن لاسو کښې نښتے یم
ستا د خودبینۍ پۀ تار کښې کرشمه

ښېې مې سوې سوې زړۀ پولې پولې
ژوند دے کۀ پۀ سُور انګار کښې کرشمه

ستا د بنګړو شرنګ رانه زړۀ وړے دے
څکه د کودر پۀ لار کښې کرشمه

تړے تږے یم کۀ اباسین یمه
تا پسې پۀ هر دیار کښې کرشمه

***

PUKHTO.NET

نقوش د حُسن دي د غرونو غونډې کلک ولاړ دی
د مخ ګلزار کښې دي رنګونه پۀ چورلک ولاړ دی

غوښ غوښ لاسونه چا ودې شونډې د اُجرت په طلب
د محل مخې ته مودو نه کاڼي تک ولاړ دی

تا چې په کوم جرم د بنـاره او دکاره وېستل
ستا لیونی اوس هم پۀ صفې وعدو کلک ولاړ دی

مینه کوه خو د حیا پـۀ دېوالۀ دننـه
پۀ بلې مۀ راځه ټول خلق کوی شک ولاړ وی

پۀ دې اوبو کښې به د ژوند آثار اوس څۀ پاتې شی
د خوړ پۀ ژی به بانډې بې خرته پلپوک[۱] ولاړ وی

---

۱ یو ترېخ بوټے مهیان وژنی۔

PUKHTO.NET

دوئ پخپل تبر خپلې ښېږي وهي ستومانه نهٔ شو
واړه قامونه د وښيليو ته لک سک ولاړ دي

هسې نه دا د وطن ښکلی د نظره نهٔ شي
د سوات په غرونو کښې نمېر[ل] غنچک غنچک ولاړ دي

د اوربل ولونه مې په سپين تندي څهٔ د اسې ښکاري
لکه حبش په سپينه واوره کُنجيلک ولاړ دي

نن چې ورپېښ شوم ستا د ژوبلو تصويرونو په چم
ټول ارمانونه مې سينه کښې په تيندک ولاړ دي

ستا د اوربل په اراده بانديې او نهٔ رسېدم
چې دې له ورايه زلفان څله د پېچک ولاړ دي

همت په غر او کړنګ نهٔ دے ځانته لار اوباسي
د اباسين ضد په لار کښې ټومره غرونه لک ولاړ دي

★★★

ل نظر پاڼه، د سپېلني يو قسم

PUKHTO.NET

رسا ترګلي د دلدار خېږي
په دغه پورې غرۀ چې لار خېږي

په ملا دې زلفې داسې تاوراتاو شي
لکه په سروه چې ښامار خېږي

څوک چې په ګل هم د ویشتلو نۀ وي
عمر له دا خلق په دار خېږي

دا خلې ګرانه ده چې راشي سپرلے
په ګلو روکېږي دنو کار خېږي

دراز قامت لالي ته ګله رسي
رقيب ميږے دے په چنار خېږي

هغه مارغان حُسن پرست گڼمه
چې په خزان کښې ئې چغار خېژي

دا با آسیر ضر دا ابشارو نـــو نغمې
که ترنّم د موسیقار خــېژي

***

# بینائي

په حالت د مسیحا باندې خبر یُې
چې زړګے بُې ځانله شین کړو په داغلو
د جمال په حِس مې داسې خاورې باد شوې
بل څه نه وینم بغیر د ژوند زیـلو

بې د زړه نه د بل کس خبره نهٔ اورم
داسې کوڼ شوم چې په وس خبره نهٔ اورم

محبت کړمه ګڼګس خبره نهٔ اورم
هسې ناست یم په مجلس خبره نهٔ اورم

لکه ټوک چې په شپېره تبه پرېوزي
د دیدن په وخت کښې خس خبرهٔ نهٔ اورم

عاشقي راسره داسې چارې وکړې
مرم د لوږې خو د نس خبره نهٔ اورم

محبت پرېښودے نهٔ شمه ناصحه
غلے غلے شه بس بس خبره نهٔ اورم

PUKHTO.NET

شوخ لیمهٔ چې دې څهٔ وائې زهٔ پوهېږم
دریغه زهٔ بهٔ د نرګس خبره نهٔ اَورم

اباسینه یمه پهٔ شاړو باندې زغلم
زهٔ بهٔ څنګه د اولس خبره نهٔ اَورم

PUKHTO.NET

---

# شاعر

زما هم پهٔ هغه کلي کښې قیام دے
محبت چې چرته عمرله بدنام دے

بلکه شمع ظاهر خاندې پټ ژړېږي
د شاعر غریب څهٔ ژوند دے خو ناکام دے

ستر ګې دې شمعې دي لمبې نهٔ دي نو نورې څهٔ دي
د شونډو کوربنې دې اورې نهٔ دي نو نورې څهٔ دي

پچې دې قطار قطار کلونه دي تومبلې پکښې
تورې کمڅې دې ګل درې نهٔ دي نو نورې څهٔ دي

کږې وږې دې تنګې دي خو مړ يمه پرې
د پښتونخوا لارې کوڅې نهٔ دي نو نورې څهٔ دي

اتش فشان چې دې زما د اسوېلو د چپاوو
اوس دې په شونډو زلزلې نهٔ دي نو نورې څهٔ دي

پهٔ هر قدم باندې لټار شومه وجود مې وسو
ډونډون مې څهٔ دے غرغنډې نهٔ دي نو نورې څهٔ دي

PUKHTO.NET

سپرلے رنګونه ستا دحُسن دانداز نه اخلی
ګوانی دې ورنده شپې نهٔ دی نونورې څهٔ دی

دشنو دبونو زیړګلی چې ګړۍ پهٔ سر اخستی
دَاباسین مستې چې نهٔ دی نونورې څهٔ دی

## دوه شعرونه

کهٔ دعظمت تکل کوې نو پاخه شپې روڼې کړه
دشوګیرو په بیعه دبر دکار شپُنه کیږي
هاغه دګلی ورشو ګانې دګودر مازیګر
مړه دښار پهٔ دې سیبرو کوڅو کښې میسه کیږي ؟

په ځان مې څه څه کاږې پورې نه کړې
تندیه ستاایکې مې نورې نه کړې

خیله جونګړه مې تا له واله کړه
نو د محل نه مې راپورې نه کړې

اغیار زمونږ کلي ته ګوته نیسي
چې د تورسرې موسرتورې نه کړې

د تورانګو اوازونه راځي
شمعې چې سترګې تورې نه کړې

وړه مې کړو ځان لکه رانجه په ګټه
خو د جانان سترګې مې تورې نه کړې

PUKHTO.NET

زۀ به چاودلې شونډې خۀ غوړې کړم
تۀ چې راغجۀ په سترګو پورې نۀ کړې

دا بۀ صبېش له اول زۀ درځمه
تۀ چې بدل چرته راپورې نۀ کړې

اے دبنګلا د مملکت ملوکې
زمونږ کوډلې چې نسکورې نۀ کړې

زۀ دخپل ذات په اباسين لاهو شوم
تا دپېښز ېبو نغمې شورې نۀ کړې

ملګرې هرڅوکۀ دتندې مرمه
د اباسين ذکر به خورې نۀ کړې

## یوشعر

یوځل به ستا داځنائي لاسونه هم خاورې شي
خزان چې راشي دګلاب ګلونه هم خاورې شي

PUKHTO.NET

داوښکې بیله چې دچا په اننګي لاړه شي
لکه تېره توره چې ښغه په زړګي لاړه شي

زه چې زړېږم څومره مینه مې ځوانېږي هومره
حُسن به ځان ووژني ستا نه چې ځواني لاړه شي

هغه لمحه زه دخپل عمر حصّه نه ګڼمه
کومه لمحه چې ستا د یا دونه خالي لاړه شي

په دې جدید دور کښې هم په خدائې یقین لرمه
ګمان مې نشته چې مې دغه سرکشي لاړه شي

بې مینې ژوند راته څه داسې بې نمکه ښکاري
لکه دکلي د ملک نه چې خاني لاړه شي

نفرت زما دکلی خلق په سینو کښې ساتي
د محبت خیره څنګه تر زړګی لاړه شي

حیا پښتوا چرته د جونو د بباس یو جُز و
څهٔ ناځهٔ شته لا نو کېږي شي ... ښځې لاړه شي

د سمندر په لوری د رومی د منزل په لوری
دا بآسیو ځنه به بیا چرته روانی لاړه شي

PUKHTO.NET

***

## جذبه

مونږ ه به خاورې محبت کړې وې
راپسې وې د خلقو خُلې سترګې
بعضې جذبې د حیا په وس کښې نهٔ وي
زاهده څله مې ترې سترګې

ملګرو خدائیګو که مې لږ ترس په ځان شوے دے
په محبت کښې چې زما خومره تاوان شوے دے

رغېدل پرېږده خو ترمرګه مې ؛ ونه رسوی
د زړه په ګل باندې مې سورے د ارمان شوے دے

بې له نفرته یې بل تېغ په زړه کښې نه توکېږی
خدائے زده چې څه چل ددې دور په انسان شوے دے

دېنګلو غوټے په مودو مودو لټنې وی
چې کله هم د مینانو امتحان شوے دے

زما دسترګې محبت د حسرتونو جائیداد
زما دوینې په قیمت باندې ارزان شوے دے

* * *

PUKHTO.NET

د شګو کلي ښونې رهوا ته نۀ جوړېږي
زۀ يو مزدور يم او مزدور خندا ته نۀ جوړېږي

کۀ پۀ غوښتلو شي نو غر دې د ارمان پۀ سيمه
زړۀ به مجبور کړمه خوشحالۀ مې تا ته نۀ جوړېږي

دې له د نمر د سترګې پاڅه او تېکور پکار دے
د زړۀ زخمونه د سپوږمۍ رڼا ته نۀ جوړېږي

زړۀ ښون سارې کړي مازغۀ د محبت پۀ رنځ کښې
سړے او ترشې بيا دارو دُعا ته نۀ جوړېږي

اول را پاڅئ د ماحول نه دا تيارې جارو کړئ
روښان ذهنونه د تيارو نه شا ته نۀ جوړېږي

PUKHTO.NET

يو ځل چې څوک د ملاکنډ د سيندپې اوروي
مريض د حُسن شي بيا بې له سواته نهٔ جوړېږي

داخو د زړهٔ کرشّې غوټې شي ما زغهٔ اوبهٔ شي
سترګې په وَس چرته اکثر ژړا ته نهٔ جوړېږي

دنن کاروونه هم اکثر پهٔ سباووتو سپارې
ددې مصروف دور انسان سبا ته نهٔ جوړېږي

پهٔ محبت کښې کائنات پهٔ يوهٔ نقطه مرکوز شي
پهٔ دې لنډه تنګ ژوند کښې سړے بل چاته نهٔ جوړېږي

هغه منګې هغه ګودر د ابآسينږ پهٔ غاړه
هغه منظر چې اوس د کلي خوا ته نهٔ جوړېږي

---

له د زړهٔ زور او يهٔ کېدل ، سترے کېدل .

دچا پهٔ خُلهٔ باندې زما دحال تپوس وکړي
دومره هم نهٔ ده چې کال په کال تپوس وکړي

زما په زړهٔ زما په سترګو تېرې هسې نهٔ دي
څوک دې زما دېوني دحال تپوس وکړي

رقیب ئې اوس لهٔ کلي راغے زړهٔ مې وبوګنېږو
دکوتي لال نه بهٔ څوک څهٔ دَلال تپوس وکړي

زهٔ خپل تالا والا قسمت په زور اوزېږ پېژنم
نو دپالي نه به څوک څهٔ دپال تپوس وکړي

چې پېغلتوب ئې لوپټه دململ نهٔ پټوي
دنن دپېغلې نه به څوک دشال تپوس وکړي

چې اباسینے دپښتونخوا خلقو ولي ولي کړو
کهٔ پهٔ جنت کښې مو بابا خوشحال تپوس وکړي

* * *

PUKHTO.NET

ګله چې ازغي هم را نه ځان راټولوي
څوک به چې يښې ريښې ګرېوان راټولوي

عشق لکه منصور غونډې يوه باندې پوهېږي
عقل مسئلې د سود او زيان راټولوي

زړونه د مينو کړي خوارۀ د ګل په رنګې
پس له غزونې چې ګرېوان راټولوي

زلفې يې ناکامه د جبين په احاطه شوې
غرونو ته دې خيال دے چې اسمان راټولوي

هغه يو اقرار مې د اميد په زړه کښې نال دے
څۀ ناڅۀ زړګے مې د ارمان راټولوي

PUKHTO.NET

څرنګ مې حرم د زړهٔ پېځ اوساتم ملګرو
سترګې مې هندوې دي بتان راټولوي

ډېر بې حده ښکلے يې چې څرنګ به دې ستايم
څوک به د لفظونو نه موتيـــان راټولوي

زهٔ يې ليونے کړمه اوخوايې ښخه نهٔ شوه
ګرځي اوس د ګلي ماشـــومان راټولوي

وګورئ کنه څومره سنګدل زما قاتل دے
سترګو نه مې وينې په سـنان راټولوي

مرۍ نهٔ خوځي کله د غورځنګ لهٔ برمه رپوځي
څوک به اباسين له شاعـــران راټولوي

* * *

راتلهٔ راتلهٔ زما پهٔ خونه راغلهٔ
آخر ګوډوان له مې اوروسه راغلهٔ

زار دې د شونډو لهٔ پرهاره شمه
زما پهٔ شونډو ترې پاړونه راغلهٔ

شاید چې زهٔ دومره حسین نهٔ یمه
ستا پهٔ نظر کښې ښائستونه راغلهٔ

ایله دې اوس د زړهٔ پهٔ غلا پوهه شوم
چې انګو کښې دې رنګونه راغلهٔ

زما زړګې د مړو ښار مهٔ ګڼه
دلته اکثر چا ودلی زړونه راغلهٔ

PUKHTO.NET

بې مینې ژوند نهٔ شي ما وُمنله
چې مې پهٔ سترګو کښې ګلونه راغلهٔ

بیا به دغرونو سینې ونړېږی
پهٔ اباسینﷺ کښې غورځنګونه راغلهٔ

---

## قیصه

دسول سول ګرېوانه بسې بسې زړګی قیصه ده
چې ستا دښمنې کل وُ دهغې زړګی قیصه ده
اوس چې ستا یادونه ځم ځمځې بېبنه ورته نهٔ کړی
دا یوه دداسې بې اسرې زړګی قیصه ده

PUKHTO.NET

دوران چې غوڅ کړم په ځیګر نو یو په لس خورشوم
د خپل ارمان په ادیره لکه نرګس خورشوم

ستا د نګې غاړې ژبه راکړه نو ټپه ټپه شوم
ګودرته لاړم په حجره کښې په مېلس خورشوم

عشق حیران کړته په خوله عقل ته داسې وائي
رانه پوښتنې هسې مه کوه خو بس خورشوم

ځان مې د نمر شغلو ته وېښ خوته مې ګل کړې
لکه د پرخې دې په غېږه کښې تس نس خورشوم

زه محبّت یم ستا عظمت منم خو ما به منې
حُسنه ماخور کړې په نړۍ زه ستا نه پس خورشوم

لکه د ګل دیوې پېغلې ګمڅو مړاوے سنه کړم
زه اباسین ووم په کلي په اولس خورشوم

* * *

لکه تېرې تېرې شېبې مې لهٔ کوګله وځي
هر يو ارمان ته مې ښېرې د زړهٔ د تله وځي

رقيب د سترګو تکېږ وهډو خهٔ پرېښی نهٔ دی
زهٔ پهٔ يوه محفل ته راشم دے په بله وځي

روح به مې هم ورسره وځي پوخ يقين لرمه
کهٔ ستا خېره مې د وجدان نه مکمله وځي

بيا به د ژوند پهٔ هره لاره تيندکونه خورمه
کهٔ ستا نزيه اوبنې مې لهٔ ځنګله وځي

زما په غم زېلی زړهٔ کښې مينه داسې ښکاری
لکه زړهٔ وچه تنانه کښې چې بمبله وځي

PUKHTO.NET

جونګړې سوزي - جونګړو میکینان ستي شو
په سور تاړاق کښې خلق چرته له محله وځي

زما د زړه نه به ته وځې تصوّر ونه کړے
چې ساه ترې وځي نو ستا یاد به ترې نه هله وځي

د بآسیرِ ضه پهٔ شاعري کښې به هیڅ پاتې نهٔ شي
چې ستا چپې چپې ځواني نې له غزله وځي

PUKHTO.NET

***

# دوه شعرونه

ماته نې اسانه کړه دستړې ژوندون لاره
زار دې شم له سترګو له جبینه له رخساره

تاسو تاج محل لره معراج د مینې وایئ
مونږه محبت ساتو بهر له کاروباره

ستا یادونه مې په سرکښې په چورلک شي
څوک چې وژاړي زما هم زړهٔ داړک شي

دجهان درانهٔ پنډونه په اوږدو وړم
ستا تصویر په سینه کېږدم زړهٔ مې سپک شي

چې زما د تقاضو پېرکۍ راښکې شي
دجانان په لوپټه لاسونه کلک شي

بیا دهر بنګلي په سترګو کښې ځان ګوري
محبت کښې خوسړے دځانه ورک شي

خپل تش پانړي امېدونه مې را یاد شي
چې مې پښه چرته په لاره کښې ټېندک شي



PUKHTO.NET

ستا دیاد په دنګو دنګو غرونو خېژي
نو زما د تصوّر په ملا کښې ځک شي

چهٔ ښېښې ابلې ونړے تړے چرته ګورم
د تقدیر په مسئلو باندې مې شک شي

زهٔ د مینې اباسینړ یورېم لاهو شوم
ستا د حُسن غرې تاته مبارک شي

***

## خال

په دنیا کښې ږګے یو بې بې مثال دے
زما ژوند دے زما روح دے زما لال دے
د جېل حُسن څهٔ مقام درته معلوم دے؟
د ژوند ون په اننګو کښې مې تور خال دے

ستا د سترګو جادوګرو اثر کم شو
که زما د زړه غرور وُ سرې خم شو

نه پوهېږم چې خفه شم که خوشحاله
چې مې ذهن په زړګوتې کښې مدغم شو

ستا واړه واړه یادونه غرغنړه شو
ژوند مې ټول د ارمانونو جهنم شو

په وطن کښې په هر لور ورېږي داوړې
په رګونو کښې چلن د وینې کم شو

ما چې خپله ځواني ولیده په اورکښې
ګلې ستا د پېغلتوب راسره غم شو

له حرکته سنه جاروځې اباسینه
که ماحول درنه چاپېر د داورۍ چم شو

***

د اننګو ګل چې دې کله تقاضې کړې دی
ما ورته هاغه وخت د وینو نذرانې کړې دی

ستا دې دوو سترګو درنو تقدس په خاطر
د زړه په سر مې د رقیبو ملازې کړې دی

ګلشن د هغو ملکیت دے حق د هغه چا دے
چا چې بلبل غوندې په اوچو ډانګو شپې کړې دی

د بنګلا کانو په وطن مدام سپرلی دې یاره
خزان زیلو زړونو خپلې وسې بسې کړې دی

د ملاکنډ شانې مې سر د رته اوچت دے کنه
مینه مې کړې خو والله که مې سجدې کړې دی

شفقه تاته درې زېړ مانېـګرې په خاطر
مېنو زړونو په سکښې مابنام ښېړې کړې دی

ګله په ما هغه اقرار هغه ناشـــوني وعده
د انتظار د سرو لمبو په غېږ کښې شېې کړې دی

د ژوند د حُسن څه احساس خو راکوي منګرو
زما په کور کښې محرومۍ مدام مېشتې کړې دی

مړاوې ګلشن ته به دو لې د سرو ګلونو راوړم
ما ته مې مور د ښېښتنو ذلمو قيصې کړې دی

ګوېوان مې خيرې رنګ مې زېړ ويښته مې تسنې وسنې
دوخت سيلو په اباسېن کې دغه کانې کړې دی

★★★

څه چرته کښې شاړو ته په کور په کلي مه راځه
ن يې راته ګوي چې بيا نور په کلي مه راځه

ګله ډېر حسين يې خو رقيب مې په ګټو کښې شي
داسې د جانان په اوږو سور په کلي مه راځه

زه پښتنه پېغله يم د رواج بې وسه کړې يم
خلق راته وخت کړي پېغور په کلي مه راځه

تا راته ويل چې دا پرهر د رغېدو نه دے
وخت مې درکوي زړه له ټکور په کلي مه راځه

زه په يوه وړه شانې جونګړه کښې وسېږمه
ته د اباسين غونډې په شور په کلي مه راځه

***

PUKHTO.NET

ستا وبڼ مې چې مې ډېره شوې په ګرېوان کښې
لکه تل د ګلو وي په بيابان کښې

د نغمو، د خوشبويانو ، د رنګونو
يو ذره بوکس مې نشته په جانان کښې

ستا راتلو سره مې اوښکې داسې تم شوې
لکه نمر چې راښکاره شي په باران کښې

خال دې جنت د اننګي په خوا کښې ناست دے
تميز ورک شو په آقا او په دربان کښې

محبّت وي چې د ذړهٔ پرهر ټکور کړي
ګنې نور څهٔ وي په غېږه د درمان کښې

PUKHTO.NET

د جنون په کوم پړاو دې راته ووې
چې تقدیر ییکلې کېږی په اسمان کښې

د ښائست نمر دې په موښ ه نېزه وال دے
خامخا توریږی خلق په ملتان کښې

نفرتونه د حالاتو پیداوار د ے
بې د مینې نه بل څه وی په انسان کښې

ستا دا شونډې ولې وچې کېږی
اباسین خو کمے نهٔ وینی په ځان کښې

## یو شعر

د فکر تېغ راله زرغون کړه کنې شاړ به شمه
داور بخری مې څوانی سېزی لتاړ به شمه

PUKHTO.NET

لکه د خوبه چې بېدار شي سړے
مینه چې وکړي نو هوښیار شي سړے

دچا دسترګو نه چې اوغورزېږي
لکه د غرۀ نه راګذار شي سړے

د زړۀ او ذهن منځ کښې ژوند تېروو
لکه پۀ دوه کښې راایسار شي سړے

د سائنسي دور به څۀ مینه وي
څنګه دعقل نه اوزګار شي سړے

د ژوند خوندونه ټول پۀ مینه کښې دي
چې محبت نۀ کوي خوار شي سړے

دتنهایۍ پۀ جزیرو کښې اکثر
دخپله ځانه هم وېزار شي سړے

دګناه توان چې زړه کښې پاتې نهٔ شي
بیا چرته هله توبه ګار شي سړے

دولت او پوهه سره نهٔ جوړېږي
علم چې وي څنګه مالدار شي سړے

د ژوند منزل ورته بلا اسان شي
چې اباسینه غوندې خودار شي سړے

PUKHTO.NET

# غورځنګونه

غورځنګونه به تر څو پورې مغلوب کړې
یوه ورځ به ځان پهٔ ما پورې منسوب کړې

تهٔ کهٔ هر څو د غرور پهٔ غونډې ناست يې
اباسینهٔ کهٔ دې راډب کړو ځان به ډوب کړې

*

د سترګو تور د شونډو سره د نظر ست وریږي
په چا به قات وي نو په مونږ خو محبت وریږي

زما د ګل غونډې جانان بوږې پرانیزي شونډې
دا چې فضا نشه نشه ده او نګهت وریږي

هر څه چې کیږي د محل د خدایانو له خوا
د تهمت کاڼي د جونګړو په محلت وریږي

د جانان غټې غټې تورې قاتلانې سترګې
اول وریږي نه چې اوري نو قیامت وریږي

د نن زلمیه ته د ځان د حاله څه خبر يې
د زهرو پرخه دې اشنا په شخصیت وریږي

PUKHTO.NET

درده چې څومره دې قوت وي هغه ټول ختم کړه
زما لېمهٔ فقط په وخت کښې درخصت وربښي

چې دور انسان ته بې زحمته څهٔ عطا نهٔ لري
ګوره په هغې خلقو هم دخدائے رحمت وربښي

د اباسين په رون تندي باندې اثر نهٔ کېږي
د زمانې له چاپېر چله کثافت وربښي

* * *

## فریب

لکه چې تندر په ګذار سينه د غرهٔ غوڅوي
د ليونۍ هره خندا مې د اسې زړهٔ غوڅوي
خنکه به څُلهٔ ورکړې زما د زړهٔ تنکی زخمونه
د شونډې و پاڅې پرې بدې پټ ئې په بانهٔ غوڅوي

PUKHTO.NET

دلته کښې قدر د بهار نه کېږي
په دې وطن کښې مې روزګار نه کېږي

زه په خزان کښې سره ګلونه غواړم
ستا په سرلو ته رانه وار نه کېږي

ماله بې تا ووله مینه راکړه اشنا
زما په لږه مینه کار نه کېږي

په مخ مې اوښکو لارې جوړې کړلې
خو د قاتل په زړه کښې لار نه کېږي

خدایه په خوب کښې بې حضور کړې ورته
ګنې زمانه خو اظهار نه کېږي

وخوره قسم د خپلې زنې په خال
ستا په ما ولې اعتبار نه کېږي

لېونی تل په محبت سمېږي
قاضي ته وایه چې په دار نه کېږي

ربه زما هریو ارمان پوره کړې
دومره بلا دې چې په شمار نه کېږي

رو رو به څو که هرڅو لار ګرانه ده
بعضې کارونه په تلوار نه کېږي

اوس ناصحانو اخر ومنل چې
د اباسین په زړه کښې لار نه کېږي

PUKHTO.NET

## لېونتوب

د تصوّر په لاسو' مازیګری رانیسم
اوس د ګودر په غاړه اور اورګی رانیسم
څومره ساده خلق دي مالیون سارے ګڼي
دوئ مې ګرېوان رانیسي زه مې ځواني رانیسم

# اواز

لکه شپونکے دسوزګداز دکه شپیلۍ غږوي
یا لکه پاڼي دنختر تېزه سیلۍ ژړوي
یا لکه سویه چرته د برظالم ښکاري قتلوي
یا لکه څوک دخوار بلبل اشیانه ورانوي
دسماعت هرې پردې ته چې به زر رسېدو
داسې اواز چې دزړه تل ته بې اثر رسېدو

هغې اواز له ماځه شکل وشباهت لټوو
خو تخیل کښې مې تصویر مغنۍ نۀ جوړېدو
بلا تت سیوري مې دذهن په پرده رېبدۀ
بلا کړېږ وې خو نخیر مغنۍ نۀ جوړېدو
په یوه تره داحساس په هره ګر رسېدو
داسې اواز چې دزړه تل ته ئے اثر رسېدو

PUKHTO.NET

لکه ابشار يې غورځنګونه وهل زورئې کوي
په وچو ترو کښې يې لارې ويستې کور يې کوي
د درد د زور نه به يې کريکې ويستې شور ئې کوي
لمبې يې چا هم نه ليدلې خو سور اور يې کوي
راتلونکې هرې مسئلې ته به ژور رسيدو
داسې اوازچې د زړه تل ته يې اثر رسيدو

هاغې اواز کښې نا ويلے بغاوت پټ وُ
هاغې اواز کښې نا ليدلے محبت پټ وُ
هاغې اواز کښې يو زغلے مصيبت پټ وُ
هاغې اواز کښې يو کوټلے حقيقت پټ وُ
خومره دوربين وُ مستقبل ته يې نظر رسيدو
داسې اوازچې د زړه تل ته يې اثر رسيدو

هغه اوازچې د زړګونو اندېښنونه ډک وُ
د بر ژړغونے وُ دهټکو او سلګونه ډک وُ
زما غوږ د نوته ورتوئې شو لکه ګرمه سيکه
لکه خوږلن غونډې د ننه د سېرغو نه ډک وُ
داسې تکليف به ماته ځيله هم اکثر رسيدو
داسې اوازچې د زړه تل ته يې اثر رسيدو

PUKHTO.NET

مانه یې خپلې ساندې هیرې کړې د وير اوازو
دمصوّر دَیو نېلی شان تصویر اوازو
زما د مستۍ حوصلې همت یې وَپـــرزوو
زما شاعر اوبهونے احساس یې وُلـــړزوو
لکه نظر غوندې د ساېې ترخیگر رســېدو
داسې اوازېچې د زړهٔ تل ته یې اثر رسېدو

ما د رڼا پهٔ تکل عمر له تیرې خــوړلې
اور او رکوته مې پهٔ څولی بیابان شپې خوړلې
زهٔ یو انسان یمه د مینې د لټون پهٔ خاطر
د مینې قند له مې تاریاق د زمانې خوړلې
چې مې د ستړي زړهٔ اواز پهٔ بحروبر رســېدو
پهٔ دې دنیا کښې مې ایله درد د تهمت رســېدو

***

چې ستا نوم مې خلې ته راشي تېروېږ شي
ترنم مې ترې په شونډو کښې راتېر شي

کهٔ تيارې مې خوښې نهٔ دي خوارمان دے
چې د زلفو يو تورتم رانه چاپېر شي

حافظه مې دومره کمزورې شوې مې دېر دي
ستا د حُسن به لا هم د چا نه هېر شي

پېغلتوب دې داسې وسپړدې جانانه
لکه گل کښې چې رنګونه رابرسېر شي

ستا بنائست مې د ځوانئ نه داسې تاؤ شو
لکه اور چې د ځنګل نه راچاپېر شي

د اسپوږمۍ کهٔ په دې بام رابنکاره کېږي
لېونې به پهٔ دې کلي کښې راډېر شي

★

PUKHTO.NET

ستا یادونو خوزهٔ ډېر ذرې ذرې کړم
زړهٔ مې غواړې چې دا زړهٔ دځانه پرې کړم

د ډیوې دُود راته زلفې زلفې کېږی
ددې غمه پهٔ کالهٔ کښې ډیوې مړې کړم

په یو حال کښې محبت پرېښبودے نهٔ شم
په دروغه د ناصح سره وعدې کړم

پهٔ سحر کښې د جمات پهٔ کټ کښې ناست یم
چې ماښام شي نو تکل د میخانې کړم

مسکیتوب کهٔ دې ایله شو د نظره
د سپرلی ګرېوان به ټول ریښې ریښې کړم

پهٔ وارهٔ زړهٔ کښې بلا راځا یومه
محبّت خو زهٔ مکان د ښادۍ کړم

تهٔ چې ورځ په ورځ زمانه لرې وځې
زهٔ خو دې خبرې تا ته درنزدې کړم

دیا دونو ابا آسیر ضربه دې لاهو کړې
کهٔ زهٔ دېرې دُعاګانې درپسې کړم

PUKHTO.NET

## مینه

چې هر خواته پکښې مینه راخوټېږي
زما زړهٔ دې دچینې په شانې روڼ کړو
تا جذبه راکړه ماحُسن ځانله خوښ کړو
چې مې سوال وکړو نوځان دې راته کوڼ کړو

***

PUKHTO.NET

لکه چې اوس په سورا را پرېوځي
د خولو څاڅکي دې پهٔ ما پرېوځي

پهٔ نیمکښو شال کښې دې مخ ته ګورم
لکه چې نمر د غرهٔ په شا پرېوځي

ستا د تېرو تېرو بڼو نه ځار شم
زما په هره مدعا پرېوځي

حېران د زلفو په قسمت پورې یم
تالې چې اوخوري نو پهٔ تا پرېوځي

چې محبت د زړهٔ قفس ته راشي
لکه په مړي کښې چې ساه پرېوځي

بیا یې په عمر کښې ملا نبغه نۀ شي
چې لۀ نظره د دنیا پرېوځي

ستا په شان ډېر د سر دردو حسینان
د باسیر ضرغېز ته بلا پرېوځي

سپوږمۍ هم ستا د پلوشو په سبب
د باسیر په مخ رڼا پرېوځي

○

# خال

په زلمیتوب کښې دې رنګونه د جمال پورې کړه
اختر چې تېر شي نو نکریزې په د بوال پورې کړه
نوې ځوانۍ، درازې زلفې، ګل ورین نقشونه
د وروځو مېنځ کښې نظرماتي لۀ یو خال پورې کړه

ستا سترګو چې مستې شوخ وشنګ خبرې زده کړې
ډېرو حسینانو ترې رنګ رنګ خبرې زده کړې

نن يې ترې په زور ديدن غوښتلو دا ئې اووې
اوګوره زما د در ملنګ خبرې زده کړې

مخکښې خو انسان د محبت پیغام راوړے
بیا چرته کښې وروستو ئې د جنګ خبرې زده کړې

مینه معلومېږي د اظهار محتاجه نه ده
نه شمع ګویا شوه نه پتنګ خبرې زده کړې

نن يې د وطن ښکلې په چغو چغو وائې
موږ د اباسين زړه د غورځنګ خبرې زده کړې

★★★

PUKHTO.NET

کمکے یُم نهٔ پوهېږم چې غمونه غاړې باسم
په خپله سرو ازغوته پرهرونه غاړې باسم

تر هاغه وخت به کرخم سرو هلے برو هلے
تر څو چې دا رسمونه رواجونه غاړې باسم

چې خوب وربکښې وینې هغه ژبه دې کونګۍ کړه
بې ننګه یُې خوبیا دې هم پښتونه غاړې باسم

د ژوند په فلسفه باندې بس دغومره پوهېږم
د اور په مېنځ کښې ځم خو منزلونه غاړې باسم

هر څو مره که ناسور شي په ازغوې پرهرونه
بلبل غوندې په هر قدم ګلونه غاړې باسم

په وُچو وَچو تیږو کښې شینکے زرغو نوومه
کم عقل ابآسین نه یمه تورغرونه غاړې باسم

* * *

PUKHTO.NET

ستا محبت راله ذره ستر ګو کښې نم نهٔ پرېږدی
خوب ته مې اوس هم ستا د زلفو پېچ وخم نهٔ پرېږدی

انسان که هر هم زوره ور دے خوبې وسه هم دے
رب خلیفه ته د جهان واګې کلهم نهٔ پرېږدی

هغه پرې ترېنه ښخواده به یو پر الوتې
نادان زړګے مې لاتر اوسه هغه چم نهٔ پرېږدی

څوک به ژړا کړي څوک به خاندی قدرتی امر دے
فطرت لاسو د تقدیر په زیروبم نهٔ پرېږدی

په خپل ګرېوان کښې نظر نهٔ کا نهٔ دیار ستر ګو ته
د ساده خلق دېوانه د حرم نهٔ پرېږدی

PUKHTO.NET

لا یې هیڅ دهېرولو په چل نهٔ پوهېږ م
ستا غم زما په سوی زړهٔ کښې بل یو غم نهٔ پرېږدي

واعظه ستا نصیحتونه پرې اثر نهٔ کـوي
دا باسین غاړه خوښکلي په قسم نه پرېږدي

PUKHTO.NET

## ډاډه راځه

د غمونو دا ښکرې څهٔ لهٔ بره څهٔ لهٔ ښکېه
تهٔ ښهٔ ډال سینه اوسیږهٔ غم پُې مهٔ کوه زړګیه
مونږ په لاړو کښې کړے محبت په پُوله پُوله
اوس دچا نه مهٔ ویرېږهٔ ښهٔ ډاډه راځه سړیه

ستا تصوّر به مې د زړهٔ د خوانه اور واخلي
چنار چې زوړ شي خو د خپله ځانه اور واخلي[1]

د تنهايۍ په يخو غرونو به واورينو لاړو
سړے کهٔ د بړېهٔ ښنډ ځي د چانه اور واخلي

چې په خطا سره مو سترګې په يو بل ولګې
د مخ سرخي مې د نوې حيانه اور واخلي

کهٔ دا سکروټې مې هم داسې په مازغو پرتې وې
يو ځل بهٔ دغه زمانه زمانه اور واخلي

د ځنګل اور دے نو اخر بيا به يې څنګه وژنې
کهٔ ګورې زلفې دې زما د ساه نه اور واخلي

زما د زړهٔ اتش فشان کهٔ يو ځل وشوريدهٔ
نو ستا د حسن اباسين به رانه اور واخلي

★

[1] روايت دے چې د چنار د نه سل کاله پس اور اخلي.

PUKHTO.NET

○

چې سحرخېزي نوخلق رنها وژني
ستا دا سپينې سپينې سترګې به ما وژني
وسينګار هېڅ حاجت نشته قلارشه
ما خوستا هره شېړله ادا وژني
روښان نکړه ښستانهٔ زما دګلي
ګوره ما د محبت پهٔ ګناوژني
خدايه دغه دې لاڅرنګې انصاف دے
پرخه ژاړي اوګل ځان په خندا وژني
د نفرت دګلي وارهٔ فسادونه
محبت د ذړهٔ نه هره بلا وژني
پېغلتوب به دې زما ځواني تالاکړي
غټيان عمرله خواران بې ګناه وژني

د چپونه ځان ساته چې لاهو نهٔ شې
اباسينهٔ به دې پهٔ مينه کښې بيا وژني

* * *

پهٔ ګوګل دننه ټول پرهر پرهر یم
زهٔ د درد دهرې سرېکي نه خبر یم

چې دخانه او جهانه بې خبر یم
خبر شوے یم چې ستا د زړګی سر یم

د دنیا هرې سختئ ته مې زړهٔ ټینګ دے
نو چې وخت دمینې راشي نو اوتر یم

د رقیب دپاره تکه توره شپه شم
د جانان دپاره زېړے د سحر یم

ستا غمونه راته لاړ ې د بنار نیسی
زهٔ د دې غمه پهٔ کلی کښې اکثر یم

PUKHTO.NET

پهٔ سور تهار کښې يَم د ګورې او ښې سيورے
پهٔ تور ژمې کښې په شان لکه د نمر يُم

پهٔ دالان کښې وارخطا وارخطا ګرځَم
پهٔ خپل کور کښې هم پهٔ شان د مسافر يُم

پهٔ نفرت کښې لکه اوږ لمبه يَم
پهٔ خلوص کښې بې پاياوه سمندر يُم

منزلونه به اوس خامخا کښېنو زې
اباسينه پهٔ منزلونو باندې سر يُم

○

## يو شعر

داوچو اوچو شونډو آه سړه لهٔ برکته
دا ځکه چې خټه ليکم خو دې درد لهٔ برکته

PUKHTO.NET

څوک د بغاوت په سزا قتل کړي
څوک د محبت په ګناه قتل کړي

چرې د یزید سندرې نه وایم
څوک به د حسینؑ غوندې ما قتل کړي

مونږ به پکښې هم د ګل ګذار وکړو
یو رقیب په مخکښې زما قتل کړي

څوک چې د ژوندون سندرې نه وائي
هر هغه شاعر او ملا قتل کړي

جام ذرې ذرې کړي چې نور نه څکمه
یا مې د یار هره ادا قتل کړي

PUKHTO.NET

راشئ چې دځان په خوند موپوهه کړو
ځئ کنه: منصور خو څوک بیا قتل کړئ

پام چې درنه یو فکر هم خلاص نه شي
دا دسلاخونو په شا قتل کړئ

شابسې مغرب به موخه یاد لري
په پښتنو پېغلو حیا قتل کړئ

اورم چې دا ورسوے په اور رغي
وارۀ مېنان په بنګلا قتل کړئ

کوره د تیرو تقدس نه مني
دغه ابآسیرغ په دنیا قتل کړئ

مینه چې رادرومي نو دعقل مزې پرې شي
اورته به سره د پوهې کله څوک نږدې شي

بیا بهٔ دې هم چاپ دقدمونو بنګلو ومه
نمرکهٔ نیزه والې شي او دا زمکه د تانبې شي

عشق لکه شاهین د الوتو په هنر پوهٔ دے
عقل تمامی عمر چرتې د اموښه وریښي

بیا کهٔ ما پرېږدې خوزهٔ بې نهٔ پرېږدم یوازې
یو ځلې چې څوک مې دې زړګې ته رانږدې شي

مه راځه داوښکو پشکال چې مې تم نهٔ شي
پرېږده چې سترګې مې پهٔ تاپسې ړندې شي

تيتې سترګې ناست وې اننګې ئې زرغونه وې
خوند کوي چې کله ذرته ښکلے بې وعدې شي

دا به مې د ذړهٔ زما په فن باندې احسان وي
شونډې د غزل کهٔ مې د زړهٔ په وينو سرې شي

●

# ايثار

ډېر مې دَ خلوص لهٔ لاسه پېپې خکلې دي
زهر ورته نهٔ وايم آشـنا راوړولې دي
ستا دا رخسارونه چې پرې قينې تاته پته دهٔ؟
ما د ښونتوبه خپلې وينې ورشيندلې دي

PUKHTO.NET

نم دې په سترګو کښې رنګونه سېزی
پرخه لاهم چرې ګلونه سېزی

دشونډو یاهې دې ټکور راکوی
دنظر مالګې دې زخمونه سېزی

دغرغنډو په منځ کښې ژوند کومه
څوک مې سبا څوک مې فکرونه سېزی

یو اننګی بل دې سرخی د شونډو
لکه اورونه چې اورونه سېزی

دبنکلو خلقو نه به څوک خفه شی
زوره ور خوارو له کورونه سېزی

PUKHTO.NET

ډېر نزدېکت مې ارمانونه وژنې
او فاصلې داله یادونه سېزي

قاضي په دې فتوې د ښاره ووېست
چې ابا سين د خلقو زړونه سېزي

PUKHTO.NET

# ساه

چم کښې مې اوسېږي نه کوڅه کښې مې اوسېږي
څومره زوره ور دے په سينه کښې مې اوسېږي
دومره را نزدې شو چې حدونه ټول تمام شُو
اوس د هرې ساه په انګازه کښې مې اوسېږي

○

سپوږمۍ هم کړې کناره زما د کور نه
یو قدم نهٔ ځي تیارهٔ زما د کور نه

زهٔ انسان یم په دشتونو کښې وېرېږم
بل ځائې نهٔ شي ګذاره زما د کور نه

د غرور پېرے دې کوز کړه چرته راشه
لاړ به نهٔ شي دوباره زما د کور نه

ګاونډیان مې راغونډ شوی کور مې سېزي
راغلهٔ دې يې وړهٔ سکارهٔ زما د کور نه

په پردو تېښو کښې سوزه پښتون یم
غلیم جوړه کړه بارهٔ[1] زما د کور نه

د بې ننګه دېڅو له سره زار شو
ابا سینډ شو رابنکاره زما د کور نه

---

[1] د مور چې هغه دېره چې ټوپک پرې ږدي۔

PUKHTO.NET

ښکلي به بلا وي په جهان خوداسې نه
زۀ هم د پرچين وَ مه ارمان خوداسې نه

تۀ مې په زړګي کښې داسې ښخ يې لکه غشی
نور ښکلي به هم وي په ماګران خوداسې نه

ستا د پرېشانه زلفو ول ته رسي نه
بر که د نخترشي پرېشان خو داسې نه

نن مې ترينه لاس د ښکلو په نيت دا ښکلو
دوئي راته ووې چې قربان نو داسې نه

حُسن، موسيقي او شرابونه لې دو زګار
يم د زړهٔ د تل نه مسلمان خوداسې نه

خدايه تاڅو زۀ په اباسين کړمه لاهو
ما د د نه غوښتلو جانان خوداسې نه

PUKHTO.NET

داغ يې راله جوړکړو دزړګی په سر
خال دے دشها دانګی په سر

مینه ښونتوب نۀ دے نوښۀ دی نور
ښیل شو رانه پاتې دپردی په سر

نۀګودم لۀقصده درته نۀ ګودم
اخلم ستا دستړګو دشمنی په سر

چرته به ساه واخلم پښې مې ماتې شوې
څوبه ګرځومه زندګی په سر

مادې په ښانُست سپرلی رانه وېستۀ؟
وخوره تۀ قسم دپسرلی په سر

PUKHTO.NET

څهٔ دمزې دواړه دېره شوی دی
مینه مې په زړهٔ او شاعری پهٔ سر

هسکه غړېده واوړی سترګې ټیټې کړی
مخې له چې راشي د منګی پهٔ سر

ستا د ټوپونو سترګو پهٔ جنګ پسې
اخلمه د ټول کلی بدی پهٔ سر

●

# پښتنې

مونږ ویوړن د زمانې یوُ هغه مستنه نغمه ګره
زمونږ ساندې نهٔ څاڅېږی د نغمې پهٔ ګور دننه
کهٔ هزار ځله سوزېږی له خلې اُف به نهٔ وانهٔ وړې
توریې څښې به کړې پیسنې پښتنې پهٔ ګور دننه

څو کۀ منزل مې د ړوندون پۀ هڅۀ لار پروت دے
زما قسمت د رواجونو پۀ انګار پروت دے

کۀ نۀ څې ټول عمر منزل دے کۀ څې دوه ګامه دے
د جانان کلے پۀ هر چم پۀ هره لار پروت دے

زلفې کمځې کړه یا ئې کېږدۀ زما پـه ولـو
دا دې پۀ نرمو او نازکو اوږو بار پروت دے

دا پۀ ګلونو باندې پرخه کۀ باران شوے دے
کۀ دا ئې پښم د خولو پۀ سپین رخسار پروت دے

بې لتا هیڅ هم زما د ښـلي حال وانۀ غست
د شونډو څاپے دې تر اوسه پۀ مزار پروت دے

PUKHTO.NET

هاغه چې مونږه ئې بلو د محبت په نامه
په دې ساده توری کښې څومره لوئې اسرار پروت دے

مدام چې ناست په کومه څانګه ئې هم هاغه ریبي
پښتونه ! دا درپکښې لوئې د عقل کار پروت دے

د محبت ذ ابراهیم په یو ځلی راتلنه
حرم د زړه کې د بتانو نه اوزګار پروت دے

ساقي دیوګوټ سره څېژم له اسمانه بره
ما کښې ښیله هم بلا بلا خمار پروت دے

وائم چې ښیله شاعری په اباسین لاهو کړم
چې په خیبر کښې د پښتو غزل پلار پروت دے

PUKHTO.NET

نهٔ یې څهٔ دَرَز او نهٔ چاوُ د وکړو خوچېږ مات شـو
ستا د شنو سترګو په نظر مې د زړهٔ ګټ مات شو

د غانټول ګل و زما لاسو ته را او نهٔ رسید
خاص په غندله کښې په ملا باندې چورلټ مات شو

سترګې یې ګل شوې ستا لار ته په کتو کتو کښې
ګله را څې کنه زما درپسې څټ مات شـو

چې د زړدار په ګرېوانهٔ به لګه باز غوته شوې
هغه منګولې شوې معذورې هغه مټ مات شو

پتنګ عاجز ته د وصال موقع په لاس نهٔ ورځیٔ
ډیوه زنګونو خیره وُنوړه ډیوټ مات شـو

---

۱ ټپول ۲ د ډیوې البنود لوګائ

PUKHTO.NET

چې سوچه مينه او خلوص پکښې وېرپيا خرڅېده
هغه هټۍ شوې دړې وړې هغه هټۍ مات شو

حجره توټې توټې تقسيم شوه بېځکونه شو ټول
کرسۍ ځاې وينوڅې کله پکښې کټ مات شو

ـــــــــــــــــــــــ

ـــه د دوکان چوکاټ ، درشلې

PUKHTO.NET

## پوښتنه

لۀ ګلمينانو د غوټو پوښتنه څله کوې
د پښتنو نه د پښتو پوښتنه څله کوې
شاړې پرتې دي ته به وګورې د جلاله جمات دے
زما د کلي د حجرو پوښتنه څله کوې

بوګنوونکي غونډې شپه ده، خدائے دې خېر کړي
جادوګره راسره ده، خدائے دې خېر کړي

يو د چا د پېغلوکۍ مينې ګرمي ده
بل زما د ژوند غرمه ده، خدائے دې خېر کړي

د سالو په سرولو چل يې نهٔ زده
څهٔ خرابه زمانه ده، خدائے دې خېر کړي

د رنګونو شونډې وچې وچې کېږي
په رخسار يې زرغونه ده، خدائے دې خېر کړي

د اوبو په غاړه تږي ناست يو
يو ځواني او بل روژه ده، خدائے دې خېر کړي

زړهٔ مې ړنې ځوانۍ مرګې غوندې وخت دے
د ارمان شونډړه مې شنه ده، خدائے دې خېر کړې

لیونئ د اباسین چپو ته دانګی
لامبو نهٔ ورځی ساده ده، خدائے دې خېر کړې

## اِخلاص

بنګله او محل نهٔ لرم بونګړې ته مې راشه
نهٔ کټ ته به مې ګورې نهٔ پوزی ته به مې ګورې
نو ماله چې راځې نو دا یوه خبره واوره
"تالی ته به مې نهٔ ګورې تندی ته به مې ګورې"

په ځان مې بيا سترګې خوږې کړه زه هم هاغه يمه
د خلقو سترګې راپسې کړه زه هم هاغه يمه

لتاړې دښتې دي قسم دے چې د تندې مرمه
د شونډو جام دې رانزدې کړه زه هم هاغه يمه

د هاغه وريت نظر ټکور مې په زړګي ورين ی
يو ځل مې بيا خوږلې کړه زه هم هاغه يمه

بيا دې د کلي په کوڅو راغلمه چرته کښې ځې
د بام دسره نه ښېرې کړه زه هم هاغه يمه

راشه چې نه وينم په سترګو ځوانی مرګ وختونه
هېرې مې ټولې حادثې کړه زه هم هاغه يمه

PUKHTO.NET

دا څو ګړدونه د مزل دي چې بدل ښکاري
خلاصې د عمر فاصلې کړه زهٔ هم هاغه یم

یا مې احساس دې زهرجن ماحول کښې مهٔ سوزوه
یا مې د زړهٔ ستړګې ړندې کړه زهٔ هم هاغه یمه

---

" زړهٔ نه دې لړې وسوسې کړه زهٔ هم هاغه یمه "
دا طرح ماله عاقل خان افریدي راکړې وه څو تړا وسه یې پرې
لا پخپله غزل نهٔ دے لیکلے۔

PUKHTO.NET

ښېښې ابلې کرشمه اکثر لالیه
غنې دې مهٔ کړه په ور لالیه

اے بې پایاوه سمندر لالیه
دغے ډېر اوختے ژور لالیه

غوکهٔ په قد قامت کښې ډېر عظیم دے
لاړ ئې ختلې دهٔ په سر لالیه

ستا دلېمو زور اوزېړ پوهه کړمه
د محبت په زېړ او زور لالیه

دلېونو ښېړې دې ونهٔ وهي
دلېونو د زړګي سر لالیه

PUKHTO.NET

دوست دسنګر لۀ سوری لری ساتم
دښمن ته نۀ پرېږدم سنګر لالیه

دارو دُرملو ته دې جوړ نۀ کړمه
ودې ویشتمه په ټټر لالیه

لۀ ابا سینه او به نۀ غواړي څوک
لا تږے نۀ يُې شونډې تر لالیه

***

# اِحساس

تیارهٔ کښې دارمان دګلو پنځ څنګه راټول کړم
غمې دسینو اوښکو په بانځ څنګه راټول کړم

دوخت په سمندر کښې چې مې ذات چپې چپې دے
په ماته اینه کښې به چېل مخ څنګه راټول کړم

ستا خوانږهٔ خوانږهٔ خوبونه زما برخه شو کړېدهٔ شوه
زهٔ په خپل اختیار کښې نهٔ یم ستا په واک کښې زما شو نه

د بېلتون غارمهٔ چې سرهٔ شي دیادونو واورې پاشي
د دیدن شپې پرې وکړه په زخمونو مې سوکړه شوه

تو له شپه بېړۍ زغلومه د تیرو په سمندر کښې
تورو شپو کښې رانه ورکه د خوبونو جزیره شوه

چې ګیلې مې راشروع کړې سر ئې ښکته کړو مسکۍ شوه
زړۀ ئې کلکه غاړه راکړه جوړې مېړۀ ترې بانه شوه

په والله چې به خدایان شي که دا ښکلې چا خبر کړهٔ
په نظر د زمانې کښې د دوئ دومره مرتبه شوه

PUKHTO.NET

دلته څوک دے پوسکونه دلته راج د زړهٔ چاودون دے
ستا که حُسن لاړ پناه شو زما هم خونه تاله شوه

قیامت خېزه انتظارؤ لاړې هم سترګې څنبلې
ستا د پلونو په ارمان مې خواره سترګو کښې اوده شوه

ځان ترې ډېر په ناز ساتمه خو ستا یاد د غاړې غوړ دے
ستا د فکر اباسین کښې د زړهٔ ماتکه مې اوبهٔ شوه

●

# رڼا

د هر ذهن دریچه کښې رڼا غواړو
ربه ستا نه پهٔ سینه کښې رڼا غواړو
د وهمونو پهٔ تیرو کښې موګزران دے
د احساس پهٔ ائینه کښې رڼا غواړو

★★★

د سندرو اجازت راته مېلاوُ دے
نو د خُلې نه مې سېلاب د اوښکو تاوُ دے

ما هم د غشي لۀ درده پېچ در پېچ کړې
ستا د زلفو ولې چې څنګله تاوُ راتاوُ دے

زۀ د ګل او د بلبل خبره نۀ کړم
د مالي د بې رخۍ نه مې زړۀ چاوُ دے

په فطرت باندې د زړو سيورے وشو
محبت په محلونو کښې پۀ داوُ دے

ستا د سرو سترګو لۀ فيض لۀ برکته
په سينه کښې مې زړۀ نشته سور تالاوُ دے

د ماڼ پۀ غټه تيګه ورته پروت يم
ترنم د اباسين دے او پيتاوُ دے

PUKHTO.NET

ځکه مستقل کوم قیام په مېخانه کښې
اخلمه د ځانه انتقام په مېخانه کښې

داسې که مدام وي مېخانه لاړه مقتل شو
تومره شوخ ولاړ دے گل اندام په مېخانه کښې

پرې مې بږده ساقي نن دې له ځمه لاندې وژم
څکل نه کوي نوند هسې په جام په مېخانه کښې

دومره نادیده وو چې په پیو لیو ئې اوڅکل
راغللو په شېخ باندې سرسام په مېخانه کښې

کله چې زمونږه دریاب نږو بادشاهي وه
شېخ به گرځېدلو بې لگام په مېخانه کښې

خدایه اباسین د مېو راولې چې وڅکو
نه شو گرځېدلے هر ماښام په مېخانه کښې

PUKHTO.NET

ستا يهٔ اوږدو اوږدو وعدو چې اُميدونه ترم
دګل په پانبو به دشونډو پرهرونه ترم

ستر ګې را پورته کړه لا ليـــه چې ئې وجنګوؤ
زهٔ خو په زور باندې دچا سره جنګونه ترم

دلوپتې پېڅکې ئې اونيوو پهٔ غابښ ويُل ئې
ګلشن ته څو خو په ګمڅو به دې لاسونه ترم

ستا دچيو چيو چشمانو نه بې ويره کېږي
څُکه پهٔ غاړه کښې داوم سينې بندونه ترم

خپل زړهٔ بې غُټ غُټ شوکيږ لے دے پرواه نهٔ لرم
ستا دسهرې به پهٔ خپل لاس باندې لړونه ترم

PUKHTO.NET

زما کتاب کښې د نفرت هډو نامه نشته دے
زهٔ همېشه په محبت د خلقو زړونه ترم

وعده چې وکړې لېونې نو بیا ئې مهٔ ماتوه
زهٔ ستا پهٔ سر د خپل رقیب سره شرطونه ترم

ستا محبت مې پهٔ سینه کښې غورځنګ نه وهي
دې اباسین ته به تړخوږې بندونه ترم

PUKHTO.NET

●

# وهم

دوئ د شین سترګی جادوګر کرامات نهٔ پېژنی
د وطن خلق ځانته پېښ مشکلات نهٔ پېژنی
د هغه دور تصوّر مې دوخ پهٔ کانړو اولی
بیا به زما مجے حجره او جمات نهٔ پېژنی

کله زما آه وګريان ته ګوري
هغه دګل غوندې اسمان ته ګوري

زهٔ دزړګی لهٔ غمه ځان شوکوم
دګلی خلق مې ګرېوان ته ګوري

هغه مېن هډو مېن مهٔ ګڼه
چې محبت کښې سود او زيان ته ګوري

مدام چې ماته مخامخ کښېني دا
زما په سترګو کښې جوړ ځانته ګوري

ډېرې بونګړې يې په اورستی کړې
مينه لاهم دچا نقصان ته ګوري

PUKHTO.NET

زۀ په يو حال کښې سپرلے نۀ ھېروم
زۀ هغه نۀ يم چې خزان ته ګوری

دپښتونخوا نه به جنت جوړ وی
که اباسين ضرور زما ارمان ته ګوری

PUKHTO.NET

## هوش

چې د ما بنام د پاره سوچ وکړم
نو ديو جام د پاره سوچ وکړم

لا فاصلې د مينځه مۀ وباسه
چې د انجام د پاره سوچ وکړم

د جانان غمه قلارے خو وکړه
چې د خپل قام د پاره سوچ وکړم

اوسو په تیرو کښې خو دنیا طرف ته ګورو
موږه په هرحال کښې د سبا طرف ته ګورو

مرو د خود دارۍ نه خو په عمر کښې سوال نه کړو
موږه په غرور د مسیحا طرف ته ګورو

خپله بدبختي مو همېشه د ځان دشمن کړې
هغه نصیب دار وي چې د چا طرف ته ګورو

موږ چې مطمئن یو نو ته کله رایادېږي
ربّه! چې حېران شو نو بیا ستا طرف ته ګورو

خپله پوهه، فکر او شعور مو پکار نه کړه
وازه خوله به ناست یو د ملا طرف ته ګورو

PUKHTO.NET

مونږه د ازل نه لېونتوب لرو په سر کښې
اوسو ښاريو کښې خو صحرا طرف ته ګورو

مونږ د باسين غوندې په يوه مخه روان يو
ورستو پاتې کېږو که د شا طرف ته ګورو

PUKHTO.NET

# تناوونه

د الفت او د غربت غمونو غبرګ
راله وو ښستولۀ ټول وجود ه خورګ
د واړه ځکه ديو بل خبرې نا ورو
زۀ د ژوند خبرې کړم او تۀ د مرګ

***

دَ مجبورو د انتها مقام ته اوُرسېږو
بیا زاره چاوُدے انتظار ما ښام ته وُرسېږو

زما دَ قتل محرک د چا نه پټ خو نهُ دے
د قاصد سوګے اسویلے الزام ته وُرسېږو

بیا پهُ جونګړه کښې د وصل بارانونه کوره
لوګے د آه کهُ مې یو ځلې بام ته وُرسېږو

څو مره نازکې مرحلې وې پهُ رموز تېرې شوې
پهُ سترګکو نو کښې الفت مرام ته وُرسېږو

یقین لرم چې ترینه مستې ترانې جوړې کړې
د زړهٔ اواز کهُ مې سپېځلی قام ته وُرسېږو

PUKHTO.NET

ستا د الفت د اډانې حاجت يې پاتې نهٔ شو
چې ليونے شو نو بس لاړ دوام ته ورسېدو

زما د سترګې ژوندانهٔ قيصه بس لنډه ده دا ده
چې يو مارغه وُ يَهٔ چرچقو دام ته وُرسېدو

دا زهر جنې ورځې شپې به څهٔ اسرې راکوي
ځکه مې ذهن د قسمت انجام ته وُرسېدو

د اباسين چپې چپې د ترنم ډکې شوې
چې يې نسيم د استا د زلفو لام ته وُرسېدو

PUKHTO.NET

د ګوروګورو زلفو پرېوريځې غروونه
سرې شونډې يې د مخ په سپينه واوره کښې ګلونه

دوه غټې غټې سترګې په نشو کښې ډوبې ډوبې
دوه نرمې نرمې شونډې ګلابي پکښې رنګونه

اوږه اوږه پايې يې مرمرينې خوږيه خوږيه
اوږې اوږې څنګلې او بوږه بوږه لاسونه

اوږدۀ اوږدۀ بانه تاوُشوې وروځې روڼ تندے يې
درې ماشومه پوزه او تنکی تنکي غوږونه

د حُسن په کعبه کښې د اسود په رنګه پروت دے
د ښي وښکي د لاندې يې د خال کرامتونه

PUKHTO.NET

خلې د جدايۍ کښې ستا ديادېږي ته پروت يم
سحر کښې مې خوښېږي د صبا وګو ښېوندونه

په لاره د خود سره اباسين غوندې روان وی
غوټۍ وهي غورځنګ وهي چپې وهي موجونه

PUKHTO.NET

# ثواب

تنهې تنهې به اوښان وی د ښوانو خوله کښې
زما د شپون زړګي آواز چې کله تا ته رسي
د جيب په مياشته کښې د هجر دوږې موښ ونيوي
د روژه ماتي انګو ثواب دې چا ته رسي

ستا بڼو راله زړګے کړو کربنې کربنې
بې وسې راله تندے کړو کربنې کربنې

چې يې ويدې زما چاودلې شونډې
نو له قصده يې منګے کړو کربنې کربنې

لکه برېښنې چې اسمان سينه ورېځ کښې
که خندا يې اننګے کړو کربنې کربنې

ستا مټين د پښتونتوب له حده تېر شو
په نوکونو يې هر ځائے کړو کربنې کربنې

دغه فيض د اباسين د سخاوت دے
په دشتونو يې سيرلے کړو کربنې کربنې

***

PUKHTO.NET

چې درنه ړوب نهٔ شمه لاس راکړه
ماله دخپل وجود احساس راکړه
زهٔ د قرضونو جنت نهٔ غواړمه
کهٔ راکوې نو لاس په لاس راکړه
ماخو د فن شونډو له سرهٔ غوښتي وو
هسې مې نهٔ وې چې وسواس راکړه
خدایه چې زهٔ پکښې حسین ښکارمه
ماله یو زیګ شړل لباس راکړه

زړګے مې نهٔ پرېږدي د ژوندن خوښو ته
ټکور دې واخله او الماس راکړه

**یوشعر**

---

زما قاتله هم مې سېزې هم مې نهٔ سېزې
هم مې زړګے سېزې او هم راباندې زهٔ سېزې

PUKHTO.NET

ماچې مړکړې انتقام به لهٔ ځا اخلې
اوس مې وژنې کهٔ وابس دې سزا اخلې

لکه شمع دې بلېږمه پهٔ زړهٔ کښې
پهٔ قلاره ! مړ مې نهٔ کړې چې ساه اخلې

محبت به درته جوړ کړی فسادونه
غزونې به جانانه سبا اخلې

چې بېنا دې کړمه ګل دې راته وښود
دا نظر ولې په بېرته لهٔ ما اخلې

بې لهٔ نمره دېبون مې په ځنځ تېرې وی
تهٔ زما دپلوشو نه رڼا اخلې

PUKHTO.NET

په خلوص باندې خرڅېږمه په زړنهٔ
دې دخمونو کور کښې که ما اخلې

کهٔ دمینې په ګوهر پسې لټون کړې!
ابا سین ته به وردانګې کهٔ را اخلې

●

## اسره

د امید لهٔ خوار وجوده سیوري ګرځي
ارمانونه ځان له ښېر ګوري ګرځي
بې له عشقه بل څهٔ نهٔ غواړم لهٔ خدایه
پتنګان خو د رڼا په لوري ګرځي

PUKHTO.NET

طبیعت دې د ماشوم غونډې نازک دے
که خبرې دې پستې دی زړۀ دې کلک دے

چې لږ یوخ شي نو هاله به د جګرګوشي
تصوّر دې لا اومه خوله دے هلک دے

پۀ هر لور باندې ترخې سیلۍ الوزي
چې خپل کور رانه پۀ خپل کلي کښې ورک دے

اے رقیبه یو مېلمه سپکښې ځایږي
دیار زړۀ خوشۀ حجره نۀ ده بېټک دے

د بناګست د جائیدادونو ته مېړمن يې
ستا شاعر د زړۀ دوران کلي ملک دے

اوس د خلقو پېژندلو کښې ستړې وځم
دلته هر سړې وهلے تر بوزک دے

د جهان په بد رنګيانو کښې مېشته يم
نو د زړۀ سره د هر ښکلي درک دے

په شنو بوټو شل کلنې ښکلے زلمے دے
د قلم په ځائ يې لاسو کښې ټوپک دے

سمندره ستا د غېږې په لمتون کښې
اباسين ځ په منډه زغلي ارتاوک دے

# اننګې

ګُل پاشي مې د ارمان په خلي کېږي
ورځ په ورځ دې رخسارونه ښکلي کېږي
اننګي دې يخ ساته زما د ساه نه
دا خو د اورې دې ګرمۍ ته ويلي کېږي

***

PUKHTO.NET

دغټو غټو سترګو د مېر مني څۀ قصور دے
زړګے مې د ډېدی غونډې په بوټي کښې زخور دے

دسرو په زنځيرونو ئې په زور راايسار کړے
بونګړو ته راتبنتي محبت ئو مره مجبور دے

ګلچينه ته حق نۀ لرې د ګل د شوکولو
ورغوڅے[1] د ګلشن خود مالي په وينو سور دے

بلا راباندې ګران دے خوبس دومره درته وايم
چې روح مې پرې سا اخلي او په سترګو کښې مې نور دے

[1] دلاس تلے

PUKHTO.NET

ترا وسه په مزاج د محبت باندې پوئې نۀ شوم
د نمر غوندې سېزل کړې او د ږُنې غوندې ګوډ دے

فطرت د ا باّسیزض په برخه کړې غور ځنګونه
چې د رومي په مستئ نوخلق واتي چې مغرور دے

★★★

# خط

شين لوګے مو خپرې لۀ وجوده سره لمبه يُو
تېـل دې رانه ویستۀ د يتکئ غوندې ورانۀ يُو
واړه رقيبان مې په جدّې اوپۀ سرطان دی
مونږ دې د نظر دا ستوا يۀ خط پرانۀ يُو

★★★

PUKHTO.NET

دښت دې کرم د سرو شګو ډېرے دې کرم
اوس خو راوړېږه بارانے دې کرم

کور نه په صحرا بانډې خوشحاله یُم
یه د جانان غمه صحرانے دې کرم

تل به دې د زړۀ سره بلوڅېږمه
بنه شوه چې د خپل اہل غمے دې کرم

مینې ستا اِحسان به را نه هېر نه شي
ساه دې راکښې پوکړه راژوندے دې کرم

بیا مې د فطرت غېږه کښې پرېږدوه
تا چې اباسینه کرم غرځنے دې کرم

***

PUKHTO.NET

# راز

ساندې یَم نغمه یَم اوکۀ ساز یَمه
زۀ د خپل احساس د زړۀ اواز یَمه
هیڅ د ژوند په راز باندې خبر نۀ شوم
دې باندې خبر شوم چې یو راز یَمه

# اور

ژوند مو دلبو په تار تړلے وی او خاندو
زړۀ مو د حالاتو نه چاودلے وی او خاندو
مونږه، درد پرستو په څخونو باندې مۀ ځه
اور مو په سینه پورې نیولے وی او خاندو

# انتشار

ماوې چې زما د ژوند حالات خوارۀ وارۀ دی
ستا د مخ رنګونه هم ډیر زیات خوارۀ وارۀ دی
کله چې مې ستا خورې ورې زلفې لیده لې
پس له هغې ورځې مې خیالات خوارۀ وارۀ دی

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

چې پښتو وي نو غیرت به خامخا وي
چې وزرې وي الوت به خامخا وي

کائنات د تضاداتو مجموعه ده
محبت چې وي ، نفرت به خامخا وي

بې منته زهٔ په عمر شراب نهٔ څښم
چې راتلم نو ماوېست به خامخا وي

دغرور په غونډۍ ناسته لږ را یاد کړه
زمونږ دواړو څهٔ نسبت به خامخا وي

چې ترڅو پورې زمونږ اختیار کښې نۀ وی
په دې خاوره کښې غربت به ۀ خامخا وی

د بابا د خولو بوټې پکښې راخور دے
فضاګانو کښې نګهت به ۀ خامخا وی

پښتنې پېغلې! ذرۀ ښکته پورته نۀ کړې
ستا د اوښکو څۀ قیمت بـۀ خامخا وی

د پښتون د خپل وجود نۀ ګوتې خېژی
کۀ دا حال وُ ثقالت به ۀ خامخا وی

زما رزق ستا دستونی نـه تېرېږی
یقینی ده بغاوت به ۀ خامخا وی

اباسینه! په ۀ فکرونو ېُ خړوب کړه
په دې خلقو کښې څۀ پت به ۀ خامخا وی

★★★

چې د الوت غکر[1] مې سوړ نهٔ شو
دا خو تښتېدے سر مې سوړ نهٔ شو

د ذرې د سرکو شېړ[2] مې ورو رېدو
خو د جذبو سنګر مې سوړ نهٔ شو

د پښتونخوا په کټ کټ وګرځېدم
ژوند مې تپکاؤ نظر مې سوړ نهٔ شو

خلق ترې تول په بناریو اباد شُو
د کلي شور او شر مې سوړ نهٔ شو

په هر پړاو کښې مې تپه پورته کړه
د بېونتوب اثر مې سوړ نهٔ شو

[1] خیال، هڅه۔ [2] تانکه، جوړه

د اورې کټ مې په زړه وترلو
نو د احساس تبتر مې سوړ نه شو

په ډېرو لوږو وتندو واورېدلو
نو د کمال هنر مې سوړ نه شو

زۀ اباسین به تر ابده روان یم
د زړۀ چاودون سفر مې سوړ نه شو

PUKHTO.NET

***

# ژوند

چرته چې ذکر د سپرلو شوے دے
هلته مې قتل د جذبو شوے دے
زما د مینې قیصه لنډه دا ده
یو تسلسل د حادثو شوے دے

په رندو سترګو مې ګزران په يو سمي نه کېږي
بې محبته خو زمانه زندګي نه کېږي

پاڅه تېشه واخله د غرونو سره سر ووهه
ديار وصال تش د بروژ په سملاستي نه کېږي

زړګے اوړه کړه نو هله به محبت زرغون شي
په شاړه زمکه باندې هېڅکله تېغي نه کېږي

د کامیابئ دارومدار وي په تدبیر او محنت
بلا کارونه په تقدیر او په تندي نه کېږي

زما په شونډو ترينه بلوڅي يخې يخې خولې
ستا دواوړينو انګورو يخني نه کېږي

له يو خوشبودار وابنهٔ .

PUKHTO.NET

هسې هم مرمه خو پهٔ مشکو شونډو مرګ غواړمه
پخپله راشه پهٔ دیدار مې تسلی نهٔ کېږی

زما او یار تر مینځ د نوک او وری نهٔ هم سپوا دے
رقیبه ستا خهٔ ګنجائش پکښې پېښی نهٔ کېږی

PUKHTO.NET

# ړانده

زما پهٔ صبر چې کېدې کا ښې دوئ نهٔ لیدلې؟
چې د شفق راته وې سترګې سرې دوئ نهٔ لیدلې؟
زما د کلی ساده خلق ما پهٔ څهٔ کېـــرموی
د بام د سره مخه سرې لمبې دوئ نهٔ لیدلې؟

PUKHTO.NET

ربه تا پېژنم که ځان پېژنم
هرڅه په سترګو د جانان پېژنم

بیا به په خُله نوم دارمان وانخلم
زه مې انجام دخپل ارمان پېژنم

خپل سیوري ځکه په کمرو ولم
اوس د نږدې نه هر انسان پېژنم

زما په قبر به رڼا بلوي
یو څو د مینې قدردان پېژنم

ټوک دې زما ځنې پښتنه وکړي
زه د ګلونو قاتلان پېژنم

پهٔ ځله کهٔ هر څهٔ راته وائي نو څهٔ
رقيبه! زهٔ خو دې ايمان پېژنم

بل يو موسم مې پهٔ کور نهٔ راځي و مې
پهٔ موسمونو کښې خزان پېژنم

د زمکې يو خدائے نعم نهٔ منمه
زهٔ ابا سيزه خو يو آسمان پېژنم

---

# تسلّی

---

چې لهٔ ستړگو بې حسابه اوښکې توئې شي
نو هله سړے په مينه باندې پوهٔ شي
د دنيا لهٔ وسعتونو مې زړهٔ تنگ شي
تا چې دويمه جانانه زړهٔ مې لوئې شي

★★★

د رواج د بندېزونو نه وېرېږم
د دې لوړو لوړو غرونو نه وېرېږم

چې زما او د جانان منځ کښې ولاړ دي
د خپل کور د دېوالونو نه وېرېږم

په جونګړه کښې په خاورو کښې ډاډه يم
څه چل دے د محلونو نه وېرېږم

محرومیانو مې په څنګ داغونه پرېښول
اوس د خپلو تصویرونو نه وېرېږم

ستا د شنډې وعدې زړے رالره داوړي
د قاصد د قسمونو نه وېرېږم

PUKHTO.NET

چې اکثر مې دګناه په لوري بیائ
زه دهاغې ثوابونو نه ویرېږم

پښتنې مې د زړګي په تل کښې اوسي
خودنن دور د جونونه ویرېږم

د دشمن نه مې حرام که سترګه سوزي
زه د دوست د فریبونو نه ویرېږم

د حالاتو بې قدري مې ناسور نه کړي
د احساس د پرهرونو نه ویرېږم

زه پخپله اباسینه یمه ملګرو!
زه به څه د طوفانو نه ویرېږم

***

PUKHTO.NET

موړ دې د حسن د رنګونو په درياب نه شوم
د اباسين په غاړه اوسم خو سېراب نه شوم

د زړګي کور ته به دې خامخا در اورسمه
که د ښائست په قيصه کښې دې خراب نه شوم

چې د ژړا نه مې بل کار په ژوند کښې نه دې کړے
شکر په دې چې څپلو اوښکو کښې غرقاب نه شوم

د ښار په ټولو طبيبانو باندې اوګرځېدم
د محبت په رنځورانو کښې حساب نه شوم

سترګې مې نه وې غړولې خوب راواغستمه
د زمانې د لاسه پوهې په څپل شباب نه شوم

زه اباسين به تر قيامته په جهان پائمه
په هر خزان کښې لکه ګل خانه خراب نه شوم

PUKHTO.NET

# تنده

د ژوند مزې مې ورو ورو رالنډېږي کال په کال
خو تنده مې د مينې لا زياتېږي کال په کال

ډېرې ارمانونه مې ولاړ د زړه په غره
تنکي تنکي لا نور هم راټوکېږي کال په کال

# نوے کال

زمونږ خو عمر په يو رنګ تېرېږي
خدايه چې نوے کال به څنګ تېرېږي

زمونږ د دوارو عجيبه مينه ده
دوصال ټوله شپه په جنګ تېرېږي

PUKHTO.NET

شړشمو درته نوستې ککرۍ خورې ورې
غانټول درته ېنولې دی چاچې خورې ورې

دَ تورو تورو سترګو نه دې شپول د ښوتاؤ
په سینو انګو کښې دې سُرخې خورې ورې

سایه چرته کښې نشته د دېوال د رشمه ځنګ
په چم کښې رناګانې د سپوږمۍ خورې ورې

حالات مې د وجود د هر اندام نه وینه ځکي
ژورې مې تکیا دی په ځوانۍ خورې ورې

چینو ته لارې بندې ګودرونه شُو ټول شاړ
ټوکېږي تلملې د خوړ په ژۍ خورې ورې

---

بو بوټه چې ترسکون ساک ئې وي۔ په ګودر کښې ټوکېږي۔

زړګے مې ستا د شونډو په ټکور باندې راتول
په ژوند مې ستا د زلفو پرېوتې خورې ورې

ازل نه اباسینه په دې یوه لاره روان
را دروې که په دې سیمه سیلۍ خورې ورې

# ائینه

بیا د رته احساس د حُسن شوے دے
بیا دې څه بانه راجوړه کړې ده

خدائیګو چې ئې لاس د ښکلولو دی
چا چې ائینه راجوړه کړې ده

⋆⋆⋆

کۀ قسمونه وکړم بيا مې هم توبې ماتېږي
جانان چې وګوري په ما بانډې خولې ماتېږي

دومره باريکې شوې چې بوج د حُسن هم نۀ شي وړے
يو ځل به خامخا د ښکلو نرۍ ملې ماتېږي

اعصاب مې دومره د غمونو تسلسل پاخۀ کړۀ
قسم په خدائے کۀ مې يو غم ته حوصلې ماتېږي

زما د کلي پېغلو کې اومستې مستې جونه
اتڼ او ټپـه کوي بنګړي اکثر په دې ماتېږي

چې د تېرو سېلاب کښې راشي د غمونو کړکې
د اوښکو بند مې تمامې عمر د شپې ماتېږي

PUKHTO.NET

څه په ژړا ژړا يې ووېل په نيمه لاره کښې
زه نوره نه شم تلے جانانه زما ښپې ماتېږي

زلمو راپاڅئ مغربي جاګړه ته لارې نيسو
د مشرقي ځوانۍ غندل مې بې نښتې ماتېږي

د مرګه پس مې چرته بر د غر په څوکه ښخ کړئ
چې زما قبر ته د ښکليو پېکړې ماتېږي

لوظ را نه ماخله په مکرانه زوره وره اشنا
ما نه خو عمر له په چل چل کښې وعدې ماتېږي

حيران په دې يم چې غورځنګ کښې يې کمے نه راځي
د اباسين ضرب په زړه د ننه تيږې شنې ماتېږي

***

PUKHTO.NET

د غمونو د ښکر نه مې پنا که
ستا دلاسه زهرهم ښبنمه خوراکه

داُمید د شمعې ژوند مې پهٔ سلګو دے
د ارمان په منزلونو مې رڼا که

زاشه ټکله تصویرونه دې راټول کړه
ما خو کړله زمانې ته سینه چاکه

چې زمونږه ژوند به څهٔ رنګې تېرېږی
زهٔ بوله د زمانې مغه چالاکه

PUKHTO.NET

اے زما د تصوّر د کلی خانه!
زړهٔ او ذهن دې زما نه کړه بې واکه

عاشقۍ کهٔ زهٔ د باد د ښې سپک کړم
خو په منډه رسېدے شم تر افلاکه

ستا لټون کښې چې د ځان نه خبر نهٔ دے
ابا سیند ته غله وا ئي چې کا واکه

PUKHTO.NET

## زړو

زما تار تار لمن رېښې رېښې ځوانی څهٔ کوی
هغه کلان شوکوی زهٔ د غنو لګۍ کومه
فرهاد خو نهٔ یم خو فرهاده ستا نه کم نهٔ یمه
د فولادی زړګی نه څپل زړګی ته زړو کومه

وحشت به خامخا کوي اوس کور په ګرېوانه کښې
ستا سرو سترګو دا اونو ستلو اور په ګرېوانه کښې

په شونډو د جانان که دا ژوره خاموشي وي
زيا تيږي به ګډېږي په ګډېږه شور په ګرېوانه کښې

ته زلفې کړه راټولې يو ګلاب دوه پکښې کېږده
زه هم بږدمه ازغي يو دوه څلور په ګرېوانه کښې

جانان يو ځلې تلے په دې لار خو په تعظيم کښې
ځيګر مې په سجده زړه مې نسکور په ګرېوانه کښې

دا ئن چې آئينې ته په ژور نظـــر کتل کېږي
کړې د مينو تخم د مينګور په ګرېوانـه کښې

نو ټوله پارسائي مې ابا سيرضربانه ې لاهو شوه
ترڅو پورې چې وينم ستا انځور په ګرېوانه کښې

***

اوس د باګرام هره کوڅه کښې خاموشي ولې ده
په سندر بوله ښاريه کښې خاموشي ولې ده

بلا خوښ ژبې بلبلان به چغېدل دلته کښې
په ملاکنډ او تاتره کښې خاموشي ولې ده

د غرۀ لمنې نه اواز د شپېلۍ نه راخېژي
زمونږ د کلي په حجره کښې خاموشي ولې ده

دوې خو به ماله د خبرې وار هم نۀ راکوو
نن دې د شونډو په نغمه کښې خاموشي ولې ده

د بنړ د ډاګې نه اواز قــدر له نۀ راوځي
اوس په اختر او ادینه کښې خاموشي ولې ده

د پېغلو شور او د جیګو کړنګارې نۀ اورمه
د هر یو کلي په چینه کښې خاموشي ولې ده

لۀ د سلو رو جام

PUKHTO.NET

رسوائي که ملامته که پېغور دے
ستا ښائست راله ژوند ته پۀ ډالۍ نور دے

ستا د ږې خال او زلفو جادو کړے
د باګرام د رنګ وبو نه ئې زړۀ تور دے

محتسبه زۀ دې ولې ګنهګار کړم
پۀ دې ښار کښې هر دویم سړے پېغور دے

محبّت د کائنات د وجود ساه ده
محبّت نو د فطرت د زړۀ ټکور دے

د لفظونو د حرمت دعويدار څوک دي
د غزل سپرلے پۀ ځا باندې سمسور دے

PUKHTO.NET

د قلم سر مې د شرم نه راټيټ شي
د ناڅاپه حادثه د وخت پېغور دے

ته د حُسن د موسم نه څهٔ خبر يې
ستا جائيداد دے خو زمونږ پکښې کور دے

زهٔ د وخت د سېلابونو لامبوزن يم
ما زغملے د طوفان د چپو زور دے

اوس مې هم په زړهٔ کښې ته يې، ته يې، ته يې
اوس مې هم په زړهٔ کښې ستا د سترګو کور دے

چې نن بيا د اباسين په زړهٔ کښې څهٔ دي
په وطن کښې لر او بر د مرګي شور دے

ط سنه ۱۹۹۲ء

* * *

نۀ څۀ دود وے نۀ دستور وے نۀ رواج وے
ستا د حُسن پۀ وطن کښې زما راج وے

د دنیا دهرې چارې چې زړۀ موړ وے
نو ستا غټو غټو سترګو ته محتاج وے

ټول ژوندون مې ستا د سر نه صدقه کړے
کۀ مې خپل ګزران پۀ قرض وے پۀ بیاج وے

محبت کۀ مې زړګے پوست کړے نۀ وے
خدائے خبر چې زۀ بۀ څومره بد مزاج وے

ما بۀ خپل ګریوان پخوا وو راټول کړے
کۀ تنۍ مې وے پۀ غاړه کښې یا کاج وے

PUKHTO.NET

ډېر ښخوا به د زړګي لهٔ غمه خلاص وم
کهٔ زما سره د ځيل ناسور علاج وے

خاکساري به مې بيا هم پرېښنو دې نهٔ وه
کهٔ لباس مې سلطاني پهٔ سر مې تاج وے

داوطن بهٔ ټول دسوات غونډۍ ګلزار وُو
اباسينے کهٔ بوۍ دقام په احتياج وے

# نهٔ اوړم

ستا دا مړې سترګې هرچا ته ژوند بخښي
يا دې لب د مسيحا خوبي لري

در نه ناوړمه اشنا ناوړمه ناوړم
کهٔ دنيا پهٔ باله واوړي وادې وړي

ما کله بلا ورته کول د غرڅنو خویونه
دا ښکلي پېژني د خپلو لېونو خویونه

دا چا ویلي چې خوی نه خوزي او غر نه خوزي
ستا محبت راله بدل کړي د سودو خویونه

مینه خو پرېږده بیت دي هم راسره ونه پالو
داسې خو نه وي پښتني د پښتنو خویونه

ته به هغه يې خو زه هغه هم اوس نه يم پاتې
خپل لېونتوب راسره وکړل د پردو خویونه

د حسن زور و پکښې دوی هم وو په سر ختلي
ګودر چې لاړو نو سارې شو د منګو خویونه

یو اباسین دې چې هېڅ له په غور ځنګ وي کتي
د شاعرانو وي اکثر د بڼو خویونه

* * *

PUKHTO.NET

دېنګړو په شور کښې ساندې زما ناورې
په سنګو پورې بې خاندې زما ناورې

زه د زړه په غوږو ستا خبرې اورم
دخپل نوم نه دې په وړاندې زما ناورې

په تازه تازه ګونګو باندې پښې بږدې
هر ځائې خپله خوښه کاندې زما ناورې

ستا نزې نزې، پستې ، ګلابې شونډې
شوې زما په وینو تاندې زما ناورې

په ګودر کښې درته مړ شومه دتندې
ته چینې ته ګورې لاندې زما ناورې

خپل وطن دې ترې پرېښود اباسینه!
چرته ځې په شاړو باندې زما ناورې

* * *

PUKHTO.NET

# تنده

(۱)

د پشکال سره غرمه
دخولو شړق وُ په ما
غارمهٔ تک سرهٔ وو دومره
چې سترګو کار نهٔ کوَو
ما چار چاپېره کتل
او وارخطا غوندې وُم
تندې اغستې وُمه
زړګې مې وار نهٔ کوَو
خلق مې ازغې ازغې وُ
تن مې مېږې مېږې وُ
ما د اوبو پهٔ لټون
سترګې راپورته کړلې
لا مې اوبه کتلې
دشګو باد راغے
پهٔ تېو روند يې کړمه
سترګې مې ومښلې

PUKHTO.NET

په خړوخړو سترګو
مې پاس اسمان ته کتل
څهٔ په نظر نهٔ راتلهٔ
توره تیارهٔ غوندې وه
لاندې مې بنیوکښې زمکه
د تنارهٔ غوندې وه
چې لږ په خور شوم زهٔ
نظر مې وګرځوو
لرې ډېر لرې راته
ګوروُ دنو شاته
یو غټ تالاب ښکاره شو
سترګې مې یخې شولې
د دې سرور په طمع
وې مې چې اوس ورځمه
ما چې قدم پورته کړو
لاندې را اوخوښېدمه

(۲)

په غورځېدو پاځېدو
په رغړېدو رغړېدو
دخپل منزل په لوری

په خړوخړو سترګو
مې پاس اسمان ته کتل
څۀ په نظر نۀ راتلۀ
توره تیارۀ غونډې وه
لاندې مې بنیو کښې زمکه
د تنارۀ غونډې وه
چې لږ په نور شومه زۀ
نظر مې وګرځوو
لرې ډېر لرې راته
دګورو دنو شاته
یو غټ تالاب ښکاره شو
سترګې مې یخې شولې
ددې سرور په طمع
وې بې چې اوس ورځمه
ما چې قدم پورته کړو
لاندې را اوخوښېدمه

(۲)

په غورځېد و پاڅېد و
په رغړېد و رغړېد و
دخپل منزل په لوری

په مزلونو سر شوم
لا د بره لار پرته وه
چې مې پښې ستړې شوې
زه به نژدې ورتلمه
نرې وتې به اوبه
ما کورو اوُنو پله
ځان په څه چل اوړسو
لاندې ټې کښېناستمه
غلې په نیت دد مې
تندې مې حلق سېزو
ژبه مې اوچ لرګے وه
اوبو ته لار پرته وه
سره تاؤ راتاؤ لاره
لکه ښامار پرته وه
ما د ښامار په څلۀ کښې
ځان ورکوؤ خو تلمه
ما دغه لار ونیوه
ښغ د اوبو په لورې
که رابنکو دمه شاته
دګورو ونو سیورې
زۀ چې به څنګښې تلمه

لرې وتې به اوبهٔ
ما همت ګوان لرلو
ښېو کښې مې توان لرلو
په خنډو خار ختمه
او که پهٔ دار ختمه
تندې اغستې ومه
په هر نا تار ختمه
زهٔ د فطرت نه مجبور
په هر ډګر ختمه
د ذور ور غوایهٔ ومه
په هر نختر ختمه
ما به قدم په قدم
همت له ډاډ ورکوو
تندې بې کوره کړمه
مېنې شمکوره کړمه
ما هرې خواته کتل
کله مې مخکښې کتل
کله مې شاته کتل
دنیا سراب وهٔ
د تندې مړشومه زهٔ
قسمت ته پړشومه زهٔ
لا څنګه ن دے زما
ما له یو ځاڅکے اوبهٔ

PUKHTO.NET

زما د قتل بهٔ ضرور پهٔ تا الزام راځي
ماله افسوس د ځلې مینې پهٔ انجام راځي

زهٔ محبت د هر انسان د زړهٔ دارو ګڼمه
ځکه رقیبه ماله چل د انتقام راځي

زما د خټو کټو کلے دومره سپک مهٔ ګڼه
دلته چې بنګلی هم راځي په احترام راځي

چرته چې هم د څوانمردی او د اخلاص ذکر وی
د ټولو مخکښې بهٔ نامه زما د قام راځي

قاتله اوس به د مقتل نه شو کېدل ګرانه ده
دلته د زلفو خوشبوياني د ګل فام راځي

PUKHTO.NET

زړهٔ مې د هجر د تیرو نه داسې تښتېده کوی
لکه ماشوم په منډه کورته د مابښــــام راځیٔ

دلبونې بادامې زنه مې پرې څهٔ ښکل کړې
لا مې د شونډو نه خوند ونه د بادام راځیٔ

زما د ښکلي وطن ښکلو زړونه ټینګ ونیسیٔ
چې اباسین کله پهٔ لوری د باګرام راځیٔ

# هُنر

زهٔ د جانان د رڼو سترګو سحر هم اخلمه
خو د غلیم د کږو سترګو نظر هم اخلمه
زما هنر تش د سندرو غږ کښې نهٔ لوېږی
زهٔ د اولس د تېرو کړیکو اثر هم اخلمه

د زړهٔ سنګین محل په یوه ورځ ادا ورانوي
د پلوشاندې غېږکې، سترګې دنیا ورانوي

د غنچې ول ته په چمن کښې ښکلے ګل لټوي
نادان عاشق دے د بلبلو مشغولا ورانوي

چې توبه ګار شومه نو هم مې په قلارنه پرېږدي
واعظه ستا نصیحتونه به مې بیا ورانوي

د قبلئیز لورې ستاذ د فرښتو رادرومې
زما د کلي بناپیرې به خانخا ورانوي

لا نو زلمے یم ابا سیرضے نمه غورځنګ وګړه
د حادثاتو تسلسل د مخ ښکلا ورانوي

PUKHTO.NET

***

خلقو غږې ماتې کړې غو ټوله بناریه کښې
راشه چې ګل وکړو په ټوله بناریه کښې

ستړګې دې خاموشه دی حیران ئمه حیران
راج دخاموشۍ په سنډ بوله بناریه کښې

PUKHTO.NET

اے دصحرا ګانو غزالې ستا په لټون کښې
ستالیونی سرشو سر په ټوله بناریه کښې

ورځ په ورځ ئې نوخ نور ارزانیږي نه پوهیږم
خلق دی خرڅیږي بنه بے توله بناریه کښې

ځکه اباسیرض په شاړو غرونو باندې سر دے
ځائے دسکون نشته ہونو له بنازیه کښې

بغیر له تا مې په جهان کښې بل څوک نور نشته
که مینه نۀ کوې لالیه په تا زور نشته

د غرۀ لمن کښې په کاڼو نه لار د خوړ په غاړه
چې زما زړه پرې اوبه څښلې هغه کور نشته

د بڼ رنګونه مادیت په بې دردۍ وتروړل
هغه مېلې چرته کښې لاړې هغه شور نشته

ستا د تېرۀ تېرۀ بڼو په ارمان ونۀ دېڅي
د مینې فصل مې پوخ شوے دے خو لور نشته

لږ د جانان د رنګو ګلونه هم مړاوي کړه
غمه یوازې دې په ما باندې څۀ پور نشته

دخپل لمبې لمبې زړګې داغرغندې وژنمه
په ساقي جانه پيمانې يو دوه څلور نشته؟

دا دوطن بنګلې ئې خدائے خبر په څه ګرموي
دا باسيرض په سپينه سپينه لمن تور نشته

PUKHTO.NET

## مجبوري

زلفې ، شونډې، اننګې، که رنګ دې هېر کړم
که د تورو غټو سترګو جنګ دې هېر کړم
ستا تصوير به هم د زړه څخې راپرې کړم
اے زما په هېرېدونه څنګ دې هېر کړم

کهٔ څوک زرځله داوائي چې قاتل دے
منکرېږی به والله کهٔ پرې قائل دے

تهٔ کهٔ فخر پهٔ ستم کړې نو کوے شې!
د زغملو مې کمال ما ته حاصل دے

لېونتوب راسره داسې چارې وکړې
جُخت مې زړهٔ پورې نیولے خېل قاتل دے

د چپو څپېړو سم پهٔ تېو ړوند کړم
پهٔ موجونو لاس وهمه چې ساحل دے

پهٔ ما تېرې لوبې ستا د بې رخئ دی
ستا سکون کښې خو زما سکون شامل دے

PUKHTO.NET

هغه دې د فریب چلبازۍ سترګې
او زما ساده زړګے غریب جاهل دے

چې بې ستا نه دبل چا په لورې نهٔ ځي
اباسینه ته خو دا یو فخر حاصل دے

PUKHTO.NET

## درې شعرونه

د وخت ګردش هاغو کوڅو کښې لوغړولے یمه
مدام چې هسکه غړې چرته ګرځېدلے یمه

کله چې ما نه بې پښتو بې پته کار شوے دے
دې خپل پښتون زړګي پهٔ هر قدم رټلے یمه

ما ته خپل ځان پهٔ ایینه کښې ډېر بدرنګ ښکارېږي
نو ته چې وایې پهٔ رښتیا سره به ښکلے یمه

رنګونه داورېږي چم په چم دپسرلی
په کال کښې خو موسم دے یو موسم دپسرلی

ګلونه مې شو داسې په احساس خوارهٔ وازهٔ
خزان کښې هم زما سره وی غم دپسرلی

خوږونه، ونې، بوټي دېځنې څلو زېلی
په هرڅه کښې ساه راشي په یو دم دپسرلی

په لاره کښې منګې په سرغانتول راشوکوی
خوارهٔ یې وی په مخ رنګونه سم دپسرلی

زما دګلي جونه څې، په سېل دورشو ګانو
په دشتو کښې ګل شوی دی شرشم دپسرلی

جانان له به غنچک دسروګلو نو ورلېږم
خبر به اباسینه! زهٔ راوړم" دپسرلی

⋆⋆⋆

PUKHTO.NET

ګل کرم ازغي کېږي حېران يمه حېران
هر څه په تندي کېږي حېران يمه حېران

دا د حُسن نمر چې درنه پورې غاړه پرېوځي
څنګ به دې خاني کېږي حېران يمه حېران

سوزمه هر څوک په دلبويه مينځ کښې پروت يم
بيا مې هم يخني کېږي حېران يمه حېران

دغه د وطن حسن شناس دي چې بې وينې
ابوبې په سپرلي کېږي حېران يمه حېران

ته د اباسين غاړه په غاړه وچې شونډې ناست يې
ستا هم زندګي کېږي حېران يمه حېران

***

PUKHTO.NET

کله داسې پړاو راشي چې حيران شم
نه پوهېږم چې په کومه لار روان شم

د ضمير بيعه مې چا هم پوره نه کړه
نو د سر بيعه چې راشي نو ارزان شم

زه چې کله ستا د کور مخې له راشم
نو پخپله سادګۍ باندې پښېمان شم

چې په مړ زړه کښې مې مينه راژوندۍ کړې
ستا د مړاوو مړاوو سترګو نه قربان شم

دلبرانو په سکروټو دې ستې کړم
خدائے دې اوکړي چې په تا باندې تاوان شم

PUKHTO.NET

خامخا به میخانې طرف ته ځمه
کله کله مې زړهٔ ډوب شي سرګردان شم

نزدیکت را باندې هسې اور وسکور شي
د ګناه ثواب په مېنځ کښې اوېزان شم

زهٔ نو ورځ په ورځ په مزکه نښوزم
څهٔ خبر به په رازونو د اَسمان شم

اباسینه شومه نو بیا خو دهر چا یم
داسې نهٔ ده چې یوازې د خپل ځان شم

PUKHTO.NET

بې لتا مې ژوند دے ناقـلاره خو
نور به درته څهٔ وائيم دلداره خو

اور دې پهٔ ژوندون رالګولے دے
یه زما ساده زړګی بیماره خو

مخ مې دکالهٔ پهٔ لوری نهٔ کوې
ځې راځې جانانه پهٔ دې لاره خو

چاچپاته بهٔ ستا دپاره وژاړو
یه د پېښور لوټ شوی ښاره خو

رامې ښکله اخر ماته بېړیه دژوند
ساه مې پکښې هم شوله بې واره خو

PUKHTO.NET

یه په دړد شریکه چرته لاړلې
کاڼي مې داتول کړه لۀ مزاره خو

تۀ چرته کښې بند خو ورته واچوه
بیا د اباسینه موجونه شماره خو

سنۀ ۱۹۸۸ء

## اناس

کۀ مې زړۀ دے کۀ ضمیر دے کۀ احساس دے
بې چینې ده پرهرونه دي وسواس دے
په ټوټو کښې زما زړۀ دوخت لۀ جوره
پولې پولې پرهرونه اناس دے

***

خاځا به خپلو سترګو ته دُعا کړم
ستا بنائست د زمانې سره اشنا کړم

په تاثیر د محبّت به ته ګونګې شې
چې تصویر دې خپلو سترګو ته ګویا کړم

اوس مې غم د خلقو زړونو ته پریوزي
هسې نه چې تا د ځان سره رسوا کړم

ما ته خپله لاره نه ښکاري تیاره ده
تا خو زه د رهــبرانو رهــنما کړم

چې تصویر ته دې په غټو غټو ژاړم
لیونتوب مې ستا د سترګو د خندا کړم

د خپل تږي تږنیدلي روح په لمسه
محبّت کښې هم د خپل ضمیر نه غلا کړم

PUKHTO.NET

خپله وینه به په فن کښې راڅوړ کړم
په غزل کښې به رنګونه راپیدا کړم

نور زما نکه دغرونو حوصلې دی
ستا دې مړاؤ مړاؤ سترګو وارخطا کړم

اے دښکلو ډوبونکی اباسینه
زۀ بې شکه بې شې دعوه په تا کړم

PUKHTO.NET

# تش لاسونه

اکثرې سوزی دخپل نوس په اتش لاسونه
پولی پولی وی همیشه دمحنت کش لاسونه
دهر ارمان کللې ملګرې زما ډکې سترګې
زما دعمر دشمنان دی زما تش لاسونه

★

تاکو مې کومې خوشحالۍ زمانه ګېرې نهٔ کړې
ما پهٔ تیرو کښې د دنیا سندرې هېرې نهٔ کړې

کهٔ د دنیا سور د لاسه مړمه هیڅ پروا نهٔ لرم
د خوبِ احساس پولۍ مې هیچا ته برخېرې نهٔ کړې

ستا د خوږو زلفو بادونه راشي وې تخنوي
خانه برباد زړهٔ د غمو خبرې چېړې نهٔ کړې

د ازادۍ د لار زلمیو د زندان ورونه مات کړهٔ
چې ماه جبینو ترینه شنګ غبرګې چاپېرې نهٔ کړې؟

پخپله مړ شومه لهٔ تندې خویهٔ دې خوشحال یم
چې رقیبانو رانه هم څهٔ لارې تېرې نهٔ کړې

کهٔ تر قیامته محبت کوې تیار یم درته
خیل اباسین ته به د مرګ خبرې دېرې نهٔ کړې

***

PUKHTO.NET

نهٔ ټینګېږم پهٔ کالهٔ کښې زړهٔ مې جوش کړي
ستا د غم به مې يو ځل خانه بدوش کړي
اننګې دې چرته هــاله پهٔ خندا شي
لکه ګل زما داوښکو پیالې نوش کــړي

مېخانه کښې پهٔ ګاونډ کښې ده خو نـــهٔ څُم
زهٔ مدهوش یم شرابونه مې پهٔ هوش کړي
يو ستم چې پرهرونه پــهٔ خنــدا کړي
يو هغه چې رقيبان راله خاموش کړي
ستا د سپین تندي د ورځو مهرابونــه
ما د مینې د مذهب حلقه بګوش کړي

ستا د حُسن پهٔ پردو کښې نهٔ پټیږي
اباسینه به سرے څرنګې دوپوش کړي

*

# دولت لوئے شے دے ؟؟؟

زۀ خو دولت د نفرتونو سرچینه گڼمه
ستا پۀ نظر کښې دولت ولې دومره لوئے شے دے ؟

دولت خو زهر دی ضمیر وژنی احساس وژنی
د انسانی وجود نه مینه او اخلاص وژنی
یو نشه چې انسانی وجود کښې کور کوی
یو جراثیم چې انسانی خویونه خاص وژنی

زۀ خو دولت د انسانی مینې قاتل گڼمه
ستا پۀ نظر کښې دولت ولې دومره لوئے شے دے

دولت حمزه[1] ته د ېر بې سیره بې نمکه بنکاری
او غنی خان[2] خو ئې بهرته پۀ ډېران غورځوی
عبدالرحمان[3] انسانیت او دولت بېل بېل کڼی
خوشحال خټک[4] وائی دولت د سړی زړۀ توروی

---

[1] امارت زاته بنکاره شو بې نمکه - چې نعمت د مسکینئ مې د خُلې خوند شو

[2] خدایه ماله کۀ د ې راکړه بادشاهی د ټول جهان
زۀ به ئې وغورځوم بهرته چرته لرې پۀ ډېران

[3] ادمیت خۀ پۀ دولت نۀ دے رحمانه - بُت کۀ جوړ شی د سرو زرو انسان نۀ شو

[4] پۀ تاریخ مرصع کښې درج یوې واقعې ته اشاره ده .

زهٔ هم دولت د زمانې يو ستر فساد گڼمه
ستا پهٔ نظر کېږي دولت ولې دومره لوئ شے دے

دولت چې کله د بُنياد د ضرورت نه زيات شي
لکه داور غوندې سړی نه سر پېتوب سېزي
نشه چې کله د مستئ لهٔ حده هور ته وُځي
لکه د گل غوندې سمسوره ځلميتوب سيزي

زهٔ خو دولت د اخلاقي وجود وبا گڼمه
ستا پهٔ نظر کېږي دولت ولې دومره لوئ شے دے

ستر گې رڼا کړه پهٔ تاريخ باندې نظر واچوه
چې محمدؐ دخهٔ پهٔ زور پهٔ جهانونو خور دے
هغه نه خان ؤ، نه نواب ؤ، نه بادشاه دوطن
خو لا تراوسه د پردو خپلو پهٔ زړونو سور دے

پيسه انسان لکه قارون د زمانې ذليل کړي
ستا پهٔ نظر کېږي دولت ولې دومره لوئ شے دے

زما پهٔ خیال کښې کهٔ دولت دے خود علم دولت
هغه سړے عظیم گڼم چې ئې کردار عظیم وی
ښکلی اخلاق را ته عظیمه سرمایه ښکاریږی
هغه زما د سوچ مِحور چې ئې افکار عظیم وی

ساده سړیه پهٔ جهان کښې داخیزونه لوې دی
ستا پهٔ نظر کښې دولت ولې دومره لوئے شے دے

PUKHTO.NET

## اُخ [1]

دحُسن کرشمې یُې دي بلا نورې بلا
اُخ کړے یُم دېنې وبنګی دخال تورې بلا
زغملے پهٔ زړهٔ نهٔ شمه نورستا دنظرغشي
پهٔ مخه مخه څلهٔ تهٔ په شا ګورې بلا

## کتاب

نفرت یکلے کېږي دذهنونو پهٔ کتاب کښې
بې مینې بل څهٔ نشته دے، دزړونو پهٔ کتاب کښې
لهٔ شرمه شوه راټوله، دبوسې ېې ورته دوې
دمخ تری یُې پټ کړل دلاسونو په کتاب کښې

## یاد

دپسرلي باران چې کله په ترتر ورېږي
ستا غټې سترګې مې رسا دزړهٔ په سر ورېږي
داسې ورېږي مې په زړهٔ ستا دیادونو یوسټي [2]
لکه چې واوره په سینه دسمند ورېږي

---

[1] دبنا مارخوږل [2] دواورې مالوچ

زلفې چې راټولې نه کړې زړه به رانه خور شي
لاس راکه چې بنګل ئې کړم که لږ غونډې ټکور شي

کله چې دشپې ننیارۀ کوهي ته ور ارتاو شم
ستا دتورو سترګو تصوّر رابان ئې سور شي

هغه وخت دحُسن په حالاتو ژړا راشي
ګل چې کله مړاوے شي او نوړند شي نسکور شي

راشه چې په تورو تورو زلفو کښې دې پټ کړم
پرېږده لېونیه چې دا زړه دې رانه تور شي

دا د تقدیر وېش دے دانسان له وسه نۀ دے
کله محبت او شاعـــرى کله په زور شي

دا د محبت تږې لیمۀ به دې ماړۀ شي
کله چې هم ستا دا بآسیو ضربه په غاړه کور شي

***

اور د اننګو نه په ګرېوان راپسې شوے دے
وژنی مې ملګرو یو ارمان راپسې شوے دے

مانه د ژوندون هر یو ملګری خنې که وکړله
خدائے زده چې دا سیورے په کوم شان راپسې شوے دے

یره د ښکلا دې بې نیازۍ ته فکر وړے یم
ګل ته پته نشته چې خزان راپسې شوے دے

زړۀ ذهن مې دواړۀ په سور اور ورپسې شوي دي
ول چې ستا د زلفو پرېشان راپسې شوے دے

هغه غانټول سترګې لیونۍ چې وچې وینم
اوس شومه خبر چې لوئې تاوان راپسې شوے دے

خله یې زما په سنګین زړۀ کښې لاره وکړله
دا د اباسین غونډې جانان راپسې شوے دے

***

بې لتا نه خو جهان خالي دے
ژوند مې څۀ دے خو يو خوب د ليونی دے

دا دې نم د تورو سترګو نه راڅاڅي
کۀ غزال د اوبو غاړې ته بندی دے

ستا د شونډو د خوږوالي اثر نۀ ځي
لا تر اوسه مې وجود مېږی مېږی دے

نور همه غمونه دې مې د مټ لاندې
يو ستا غم دے چې پۀ ما باندې حاوی دے

پۀ چينه کښې کرښې کرښې اور بليږي
کۀ د نمر د سيرې پرق پۀ بنخکی دے

PUKHTONET

زهٔ چې کله هم د تلو خبره وکړم
پهٔ مکېز وائ چې کښېنه لا وختې دے

په منه کښې د بلبل د شونډو خاپ دے
کهٔ سور داغ دلیونی پهٔ اننګی دے

دا زړګے مې جوړ پهٔ دواړو سترګو روڼ دے
چې لمبې وی چرته ما پرې ورولی" دے"

اباسینه پهٔ وړاندې ځی پهٔ دوستو نهٔ ځی
دا صفت د دهٔ پهٔ برخه ازلی دے

★★★

PUKHTO.NET

څه د زړهٔ په سر مې درته وخاندل
ډېره موده پس مې چرته وخاندل

ستا د تغافل غرور مې مات کړلو
ما د زړهٔ پرهر پرهر ته وخاندل

بيا د ښغلتوب ورځې ورياد شوې
نن چې يې په شاګودر ته وخاندل

داغ چې دې د وروځو په ښوند کښې دے
ګوره نظر ماتې ورته وخاندل

ستا د ښغلتوب په اور کښې سوزمه
ما دې هر قاتل نظر ته وخاندل

شپې ته مې د زړهٔ په سترګو وژړل
اوښکو مې سبا سحر ته وخاندل

لا د اباسين ځپې سرې نهٔ دي
سم لکه فرهاد مې غر ته وخاندل

***

ژوندون څۀ دے پۀ مثال لکه حباب دے
هرې سرېکې ته يې کله آب وتاب دے

حادثات او واقعات د ژوند خاصه ده
سکون بې له اضطرابه لوئ عذاب دے

لازمي به د جهان دستر ګو تور وي
چې زمونږ د ملنګانو انتخاب دے

هسې نه چرته د تندې نه هلاک شم
ټول وطن راته سراب سراب دے

اباسين ضد پکښې غورځنګ وهي ژوندے دے
کۀ زما وطن په مړو باندې حساب دے

***

PUKHTO.NET

هره هڅه د ارمان شوه راته شنډه
اوس مې خپل زړګے کوي زمانه ځنډه

چې د روح پورې مې سرېکي د پرهر ځي
ستا د چاودو شونډو خاپ مې دے په تنده

بیا دې هم زما په زړه کښې لوئ مقام دے
اے زما او د جانان د لارې خنډه

ستا د زلفو او قامت غرونه مې سر کړل
ساه مې ځکه داسې کښي لنډه لنډه

مرګے څه دے د سکوت د جمود غېږه
ژوندون څه دے هله منډه منډه

لویښته دې په مخ داسې راخوره کړه
چې توبه دې پرې زما کړله بربنده

نه د څول کلي نه هسې کیله من یم
په ما کاڼي راورینږي له ګاونډه

د ژوند ون سره اخته مشت ګرېوان یم
لکه پېغله پېغله ناوې چې شي کونډه

د باکرام په خړو خاورو کښېږي نولي
اباسین ضمینه داوړي له ملاکنډه

***

اور دے سور انګار دے په لمبو کښې زندګی ده
اوسو لګه خال په اننګو کښې زندګی ده

زۀ به ئې وصال ته او تۀ جنت ته ورځې شماره
ماله په اېل تاله تسبو کښې زندګی ده

نصیب نه کیله من او په ژوندون یانې ستومانه
داخۀ په نقابونو او پردو کښې زندګی ده

سړے په کښې د ذات د داېرې نه وتے نۀ شي
د ګل شانې پابنده په ګملو کښې زندګی ده

هیڅ غرور کولے نۀ شو په ګویا ژبو قدغن دے
غمازه ستا دلاسه په غمزو کښې زندګی ده

PUKHTO.NET

داځکه دهوسې غونډې ټول عمر وار خطا یُم
زما په غمو سترګو ازمرو کښې زندګي ده

خوندونه ټول پېکه شو خمارونو ګډې وړې
ماحول مو اديره شوله په مړو کښې زندګي ده

ممکن دی ابا سينه چې دې عقل پکښې ډوب شي
د وخت په بې منطقه فلسفو کښې زندګي ده

PUKHTO.NET

ړنړ د اوښيو کښې مې څنګه سترګې ورشي
په نوبونو پسې ړوند شمه سحر شي

په خفګان کښې يې لا حسُن يو په دوه شي
ټوره نوند کوي چې ښکلے مرور شي

محبت وي د کم ظرفو خلقو داسې
لکه ګل چې د ماشوم په لاس کښې ورشي

سترے سترے دې د زلفو په ارمان يم
په غرۀ پرېوزي ماښام چې سترے نمر شي

يوه مينه زۀ بے توله ورکومه
نور حساب ساتم جانانه زۀ د هر شي

PUKHTO.NET

ستا دیا دو دیوالونه رادوړیږی
دزړهٔ کور به مې په تا پسې کنډر شي

پهٔ ما داسې کیفیت شي چې تهٔ راشې
دشکي دوژې پهٔ ورځې چې اختر شي

هغه ځائې هغه منظر به د کتو وي
اباسین چې ورداخل پهٔ سمندر شي

PUKHTO.NET

○

لویه خدایه دا زړګے مې دومره ډېر شوے
چې د هر انسان د درد نه راچاپېر شوے

د نفرت تخم مترۀ شوے په دُنیا کښې
مُحبت د هر زړګی نه رابرسېر شوے

د زړګو ټکورول مې وظیفه شوے
پرواه نشته د ے که ځان هم رانه هېر شوے

مُحبت مې هر مسام خولې کړې
په رګ رګ کښې مې د وینو غوندې تېر شوے

په هر دهن کښې د امن زرغونه شوے
نسادونه د نړی له مخه زېر شوے

د زپلو انسانانو وچې شونډې
د خلوص د اباسین په اوبو سېر شوے

PUKHTO.NET

# دُعا

پهٔ سینه کښې مې د علم بڼار اَباد کړې
یا د شپو ورځو لهٔ قېده مې آزاد کړې

پهٔ تیارو کښې مې د نُور یو مناره کړې
پهٔ چمن کښې مې پهٔ مثل د شمشاد کړې

بچ مې وساتې د هرې بربادۍ نه
د پښتو پهٔ نېکنامۍ کښې مې برباد کړې

د انسان مینه مې زړهٔ نه ورکه مهٔ کړې
ذُوالجلاله چې پکار مې د هېواد کړې

چې څوک ترې پهٔ وطن کښې پاتې نهٔ شي
زما خدایه اباسین ضرور ته ور یاد کړې

* * *

PUKHTO.NET

# کتلی ایوارډونه

۱- وړومبے انعام

رحمان بابا ادبی ایوارډ
اباسین ارټس کونسل
پېښور

۲- دوئیم انعام

چاچا کریم بخش ایوارډ سوات

PUKHTO.NET




PUKHTO.NET

کهٔ زما د شخصیت حدونه گوري
زما فن زما د فکر ترجمان دے

اباسین یوسفزے